# واورېنه

(لومړی شعري ټولګه)

**ویــناوال:**

محمد وسیم مومند

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

**........کتاب پېژندنه...............................................**

کـتاب: **واورینه**

ویناوال: **محمد وسیم مومند**

کمپوز او اډیټ: **عبدالوهاب مومند**

اړیکه: ۰۷۸۴۰۰۹۸۴۹ ـ wahabmomand90@gmail.com

د خـپرېدو کال: **۱۴۰۰ ل / 2021ع**

کچه: **رقعي**

چاپ وار: **لـومړی**

چاپ شمېر : **۱۰۰۰ ټـوکه**

خپروندی: **بغلان ادبي بهیر**

چاپځای: **شېګل مطبعه**

پته: **کابل ښار، ده افغانان ـ اریانا مارکېټ.**

شمېره: ۰۲۰۲۱۰۰۸۹٦

**ددې کتاب د چاپ، پر وېب پاڼو او ټولنیزو رسنیو د خپرولو حقوق له خپروندیې ټولنې سره خوندي دی!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اهداء!

زما د گراني مور سپېڅلي وجود او د ارواښاد پلار سپېڅلي روح ته!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لړلیک

د خمار او بهار شاعر .................................................. ح
همېشه به پرې ناري وي د بلبلو.................................................. س
د ښکلا وسیم.................................................. ق
د شاعر څو خبرې .................................................. ت
ښکلې مينه.................................................. 2
خزانې.................................................. 3
شين اسمان .................................................. 4
ښکلی بهار .................................................. 5
غزل.................................................. 6
بنګړي .................................................. 7
غزل.................................................. 8
تورې سترګې.................................................. 11
غزل.................................................. 12
پېزوان.................................................. 13
ښکلې خندا .................................................. 14
غزل.................................................. 15
بې وفا.................................................. 18
غزل.................................................. 19
انصاف.................................................. 22
غزل.................................................. 23
خندا .................................................. 24
اباسين .................................................. 25
غزل.................................................. 26

(c) ketabton.com: The Digital Library



وطن ........ 27
غزل ........ 29
د ګلرخو قافله ........ 39
غزل ........ 40
دوست ........ 47
ملغلره ........ 48
حقیقت ........ 49
غزل ........ 50
پېغور ........ 51
غوټۍ ........ 52
سترګې ........ 53
غلامي ........ 55
غیرت ........ 56
شفق ........ 57
موسکا ........ 58
غزل ........ 59
ساقي ........ 60
هسکه غاړه ........ 61
ښیښنه ........ 62
غزل ........ 63
د وطن مختګ ........ 65
غزل ........ 66
شنې پیالې ........ 68
د مرحوم خاطر اپریدي صاحبددې بیت پر بنا ........ 70

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسرت ........ 71
سفر ........ 72
ارمان ........ 73
د رحمان بابا د کالیزې په ویاړ! ........ 74
اوښکې ........ 75
محبت ........ 77
میو جام ........ 79
خبر ........ 80
تصور ........ 81
غزل ........ 82
د حسن بازار ........ 83
پرخه ........ 85
غزل ........ 86
رباعي ........ 87
مهال ........ 88
عطرونه ........ 89
ننگ ........ 90
غزل ........ 91
قمر ........ 93
کهکشان ........ 94
غزل ........ 95
د شوندو رنگ ........ 97
شرمنده و ........ 98
اختر ........ 99

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوبه ........................................ 100
بغاوت........................................ 101
چنار ........................................ 102
د نفاق ټکي........................................ 103
په اور لمبه........................................ 104
غزل........................................ 105
پاړکی ........................................ 106
انحصارې سترګې ........................................ 107
رسي که نه؟ ........................................ 108
غزل........................................ 109
د مور نړېواله ورځ ........................................ 111
غزل........................................ 112
مورې! ........................................ 115
نيمه ازاد نظم ........................................ 116
غزل........................................ 117
يادښت........................................ 123

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د خمار او بهار شاعر

ساقينامه يا خُمريه شاعري په پښتو لرغوني شعر کې زرغون خان نيازي پيل کړې او وروسته د نورو شاعرانو پام هم ور اوښتی دی. په دې شاعرۍ کې د ساقي، شرابو، مينا، جام، خُم، ميخانې او پيمانو ستايني راځي چې ددې کلمو تر شا بيا د کلمو د ظاهري مانا په څېر يوه او مجرده مانا نه څرګندېږي، بلکې د هر شاعر د سبک او عقيدې له مخې دويمه او درېمه مانا هم وړاندې کوي.

د رزمي شاعرۍ مخکښان ترې د خپلې مېړانې او غرور مانا اخلي، په بزم کې بيا د خپلې مينې لپاره وفاداري، ژمنتيا او په ښکلا غرور هدف وي، خو کله چې بيا خبره تصوف او عرفان ته راځي، نو هلته دا مقام د خدای تعالی د معرفت او ښې اشنايي په عرفاني سيمبول بدلېږي.

اوسني شاعران چې تر ډېره مينې او ټولنې ته ژمنه شاعري کوي، له ژونده يې تجربې خامې دي، اکثرو يې ساقي او ميخانه نه ده ليدلې، د عرفان او تصوف له نړۍ لېرې شوي ښکاري، نو دا ډول شاعري يې هم مينه، فردي او کله کله هم ټولنيز دردونه را نغاړي.

دلته سيمبولونه هم تر ډېره د شاعر فردي موخې رسوي، معشوقه څرګنده ده او شکايت چې د اوسنۍ شاعرۍ د موتيف يې جوړ کړی، هم انځوروي. شاعر د خپل غرور او ماتو د غچ لپاره د ماښام او جام لاره نيسي، خپلې معشوقې ته وايي چې زما سره د ځان لوړ ساتلو بله لاره هم شته، خو لامل به يې ته وې او زما وفاداري به لا هم ثابته وي.

لنډه دا چې اوسنۍ خُمريه شاعرۍ د ماناګانو په محدوديت کې را ايساره ده او د ابهام او ايهام ښکلاييزه پرده ترې په ټولېدو ده، خو ددې رنګينۍ ډولۍ اوچتولو ته بيا نوو ادبي صنعتونو، ترکيبونو او د ژبې روانۍ خپله نرمه اوږه ورکړې ده.

زه چې د کوم شاعر په اړه څه وايم، هغه داسې يو کس دی چې هم يې مستانه شاعري کړې او هم يې دغه شاعري د طبيعت په خُم کې رنګولې او رنګينه کړې ده. طبيعت چې د پښتو شعر يوه مهمه، خو تر يوه حده هېره شوې او نا منظمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



برخه ده، دغه شاعر ورته ارزښت ورکړی او د خپلې شاعرانه لارې د ځانګړنو له مخې يې د دروني او بېروني طبيعت خواږه ورباندې لورولي دي، ځکه ورته د خُمار او بهار شاعر وايم. دلته به يې يو څو بېلګې په ګډه ولولو:

اې ساقي! ماته د ښکلو ميو جام را
په نېکانو کې يو نوم د نېکو نام را

يا:

ساقي په لاس کې جام و، ست يې وکړو د شرابو
حاجــت مې جــام ته نه و د نشـــو ډکه فضا وه

په دويم بيت کې د نشو ډکه فضا له کومه شوې؟ دا فضا د طبيعت منظرو او ښکلاوو جوړه او ډکه کړې، په دې مانا چې شاعر ډېر طبيعت او ښکلا ته ارزښت ورکوي او دا ارزښت د ساقي او خُمار د ماتې لامل ګرځي.

د ښاغلي وسيم مومند په دې شعري ټولګه کې د هغه مستانه انداز او د طبيعي مناظرو ستاينه غاړه دومره سره غاړې غړۍ وي چې ډېر ځله د يوه او بل ځای نيسي او پسرلی د طبيعي مناظرو په جام کې د ښکلا وېشونکي ساقي په توګه ځان څرګندوي.

دا سبک ستر خوشحال خان هم په خپله شاعرۍ کې پاللی دی، بابا د يوه طبيعت پېژندونکي شاعر په توګه د پسرلي د ننداري پر مهال جام او مينا هم صحرا ته وړي او د ساقي ياد کوي. يو څو بيتونه يې داسې دي:

ساقي راشه شراب راکړه د سرو سترګو
تر چشمانو دې ځارېږم چې بهار ځي

***

چې دا هسې نوبهار درومي بې ميو
دا خبره په هر چا ده نا صــــلاحه

***

زه له تا جدا په سوز او په ګـــداز يم
ته به ګشت د ګلستان لاس په مينا يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وسیم مومند بیا په دې ورځ له خپلې بد قسمتۍ ژاړي، په یوه شېبه کې د خپل عروج او نزول عروج وړاندې کوي، یا په بل عبارت د خپلې ماتې او بریا تصویر یې زموږ سترګو ته دروولی دی.

ما وسیم چې سره شراب د شونډو نوش کړ
د رقیب په مخ کې زه په شان د شـېر شوم
د امېد غوټۍ مې ځـــګه ګلان نه شـــول
چې نسـیم ګذر کولو زه یې هېـــر شوم

یا:

محل چې درته جوړ کـــــړمه د شنـــو اوبو په غاړه
سپوږمۍ چې پلوشې کړي مونږه ناست یو سره دواړه
وږمـــو د پســـرلي چې ســـتا لمن وي را نـــېولې
ربـــاب مې شرنګـــــولی او تـــه وای راتـــه ولاړه

په دغه دوو بیتونو کې د پسرلي یا په ټوله کې د طبیعي مناظرو ماهرانه انځور ښکل شوی چې ذهني او عیني اړخونه دواړه لري او موږ ورسره دغه نابې ننداري ته بیايي.

زه هلـــه لېونی شوم تا خمـــار خمــــار ویل
بلبلو په چمـن کې هم ګلـــزار ګلـــزار ویل
زړه زما زخمي شو چې بهار راته په غوږ شو
ګلونو په صحـرا کې چې بهـــار بهـــار ویل

یا:

د سرو شونډو په شربت کې د شراب غوندې نشه ده
دا دوه سترګې چې څلور شي هوسونه ترې جوړېږي

یا:

د سحر باد چې دا ګلونه غوړولی شي
دا د خپه زړګي غوټۍ به هم سپړلی شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشحال بابا په یوه بیت کې وایي:

د ګلــونو په موســـم کې هغه خوار شول
چې ګل رنګه معشوقه یې تر څنګ نه وه

همدا مضمون په یوه ډول د مومند صیب په یو څو بیتونو کې داسې راغلي دي:

څه ښکلی بهار دی چې محبــوبه وای او زه وای
څه ښکلی ګلزار دی چې په شنه چمن پراته وای
د ګل په خوشبویي کې د سپـوږمۍ په رڼایي کې
ډوب په خپـــله مینه د بـــورا په تمـــاشه وای

زما د خبرې مطلب دا نه دی چې مومند صیب به د بابا د شاعرۍ تر اغېزو لاندې دا لاره غوره کړې وي، که چېرته وي هم، نو دا ستره مېړانه ده چې یو څوک دومره ستر او عالي انتخاب ولري. دا ډول ګڼو بېلګو زموږ ولسي ادب هم ښکلی کړی دی. په یوه لنډۍ کې راځي:

په باغ کې مه ګـــرځه دلبــــره
ګلان شرمېږي مخ په پاڼو پټوینه

د مومند صیب یو بیت داسې دی:

شینکي باغ کې را ښکاره شي سور کمیس شنه لوپټه کې
ګُل ګـــلاب په شــــرمېدو شـــي بلبـــلان په ولولو شي

د طبیعت د مناظرو ستاینه په تصوفي شاعرۍ کې ډېر ځله د مقدمې یا مبتدا په توګه یادېږي او وروسته ورسره خبر هم تړلی وي چې عرفاني شاعران یې خپلې لارې او مسلک ته د وسیلې او ژمنتیا په توګه بیانوي او دا کار ممکن خپل مخاطب ته په پام سره وکړي. د مومند صیب په شاعرۍ کې بیا د طبیعي مناظرو د ستاینې پر مهال خبره په مبتدا کې پاتې کېږي، خو یو وېروونکی حالت زېږوي، وېروونکی تصویر جوړوي، لوستونکی انتظار وي چې اوس به نو څه کېږي؟

په اسمان کې چې برېښنا شي باد باران په اورېدو شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمنـــدر په خامـــوشۍ شي توپانونه په څـــپو شي

لنډه دا چې مومند صیب د طبیعت او مستانه بیان او ارایې په برخه کې یو ښه او کامیاب شاعر دی، لامل به یې هم له طبیعت سره د نوموړي اړیکه، غني او شاعرانه ذوق وي. دا دده خپل ذوق او شاعرانه لیدلوری دی، د شاعرانه بیان دا ازادي هېڅ کوم کره کتونکی له ده څخه نه شي اخیستلی، ده هسې هم خپل ځان ته قناعت ورکړی او وایي:

که مدهوش یې که مستي کړې اې وسیمه!
یم حیران چې دا به څنګه کړې عقبـــا ته؟

له دې پرته دی د مینې په اړتیا او وړتیا هم پوهېږي، که په ویښه نه وي، نو دا انساني هیله یې د لا شعور په نړۍ کې پرته ده او ده ته یې ویلې دي:

بېګاه راته په خوب کې یو سپېځلې داسې ویلې
وسیمه! په دعا کې دې سپېـــځلې میـــنه غواړه

ما چې تر کومه د مومند صیب دا شعري ټولګه ولوسته او د شعر ویلو نېټې ته مې یې پام وکړ، نو اکثره شعرونه یې د( ۱۹۹۸) شاوخوا کلونه دي چې زیات یې د هجرت په دیار کې ویلي دي، ممکن ډېر یې د شاعرۍ د پیل یا ابتدایي شعرونه وي او د هر شاعر د پیل شعرونه مخامخا له فني اړخه ستونزې لري، دا هم یو حقیقت دی چې له نن څه باندې دوې لسیزې وړاندې زموږ د شعر د تیوري او کره کتنې بهیرونه او کتابونه په ننۍ کچه نه وو.

د مومند صیب د شاعرۍ په تخنیکي برخه کې ځینې ستونزې شته دي چې لا هم نه دي حل شوي. مثلاً په ځینو شعرونو کې د څپو د کمښت، د اهنګ ماتوالي، نامعیاري شاعرانه کلمې، قافیوي عیبونه، کله کله هم د تصویر بشپړونې صنعت نیمګړې خواوې هغه څه دي چې د هغه شاعرۍ ته د کره کتونکو د خو ګوته اړوي. مثلاً دا بیت:

غشې په ښښه هم په خاوره لګي
دا ستا باڼه د زړه په ســـر لګي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورتنی بیت د غزل مطلع ده او طبیعي ده چې مطلع مقفي او مصرع وي، یاني دواړه نیم بیتي قافیه او ردیف لري چې دلته خاوره او سر د قافیې کلمې نه دي، خو که بې مطلع غزل وي، بیا نو په ازاد نیم بیتي کې اړتیا نه وه چې لګي (لګېږي) راوړل شي، ځکه چې دا کلمه ددې شعر ردیف ته ځانګړې شوې ده.

یا:

خزانـــــــې چې د لعلونو یې بهـــتر دی
خـوږ نسـیم چې ښکلی لږي د سحر دی
چې شراب څومره تراخه یې خواږه لږي
خوشـــبویي لکه د مشـــکو او عنبر دی

په دې بیتونو کې بیا د ( دی ) ردیف د جمع او مفرد هم د جنسیت له اړخه نه دی تصریف شوی، خزانې او لالونه جمع دي او باید ( دي) بشپړوونکی ورته کارول شوی وی، خوشبویي مونث او دی ورته د مذکر بشپړوونکی راغلی دی، په همدې ډول تراخه د (ترخه) نا معیاري بڼه کارول شوې ده.

بله بېلګه:

طــواف وکړم کعبې نه که د ســتا قمر نه تاو شم
پیالې د میو نوش کړم که محراب منبر نه تاو شم

په بیت کې خبره د زړه او مخ ده، شاعر همېشه کوښښ کوي چې انډولونه پرتله کړي، حمید بابا چې وایي، ( خط پر مخ د صنم راغی که سپوږمۍ شوه په هاله کې) دلته دواړه خبرې په مخ کې دي، ځکه یې تړاو هم اسان دی، مومند صیب بیا د زړه او مخ خبره کړې، کعبه زموږ لپاره د پاک زړه سېمبول دی او قمر د سپین مخ، د کعبې ظاهري رنګ(پوښ) تور دی او د مخ سپین دی. قمر( سپوږمۍ) د مخ تشبیه ده. که خبره داسې وای چې له مخ نه دې وګرځم که قمر نه، نو د تشبیه او پرتلنې اړیکه رامنځته کېده. په دویم نیم بیتي کې بیا خبره ګوزاره کوي، ځکه چې د مستۍ او زهد تصویر یې وړاندې کړی چې متضاد اړخونه دي او کله کله تضاد هم د ښکلا اصل او لامل وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ملنګ جان په یوه شعر کې راځي:

مـــخ دې بلې لمبې کاندي کله ګل کله غنـچه شي
ځکه ماته ډېرې ګرانې، د پتنګ بلبل نخرې دي

دلته د تشبیه د صنعت له مخې هم ترتیب رعایت شوی او هم انډولونه د تضاد پر ځای د ورته والي په تړاو تړل شوي دي او هم یې د عارفانه تجاهل صنعت ښه پاللی دی، ځکه شاعر وایي چې مخ دې کله لمبې کړي او کله ګل و غنچه شي، نو زه اوس حیران یم چې پتنګ شم که بلبل شم، د پتنګ کار له لمبو او د بلبل له ګل سره وي. یا:

زه خو ستا په مینه مست یم
پـه شـــرابو مـــلامت یـــم
له زمــــرو مې نه شـــي وېره
ځان قربان ستا په خلقت یم

ښکاره ده چې مست د ملامت او خلقت د قافیې مناسبه کلمه نه ده، ملامت او خلقت هم خپلو کې قافیوي عیبونه لري چې پاملرنه ورته نه ده شوې.
د مومند صیب د شاعرۍ له لوستو وروسته راته څرګنده شوه چې دی له ژوند او طبیعت څخه پراخه تجربې لري، هم یې درد او هم یې د مینې خوږلت تجربه کړې دی، باوري یم چې د هغه د شاعرۍ دنیا به له خپلې ټولې ښکلا سره د هغه د مینه والو زړه ته لاره وکړي. زه ورته ددې ټولګې د چاپ مبارکي وړکوم او له زړه نه ورته وایم چې ګران وسیم مومنده!

ته چې وطن کې دنیاګۍ د ژوند ودانه غواړې
ستا تقدس د مفکورې ښکلې ارمان ته سلام

**په ټوله ادبي مینه او درنښت**

**پوهنیار ګل رحمن رحماني**

**۱۳۹۸، د سلواغې ۷مه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## همېشه به پرې نارې وي د بلبلو!

شاعري هغه درياب دی، چې ورننوتل يې خيال او فکر ته اړتيا لري، يانې خيال او فکر د شاعر زريني وزرې دي چې په خيال پردازي کې يې غوړوي او تر لوړو غرونو پورې ـ پرې الوزي، ددې له غوړولو وروسته د بديعي صنايعو په رنګينو ځاځکو باندې شعر رامنځته کېږي. شعر هغه کلام دی چې له (فکر، احساس، عاطفې، تخيل او اهنګ) څخه رغېدلی وي، يانې درياب په کوزه کې ځايول دي. همدارنګه را وروسته ادب څېړونکي وايي: (ښه شعر هغه شعر دی چې وېښته سوری کړي.) دلته بيا له بديعي خواوو بحث مخې ته راځي يا هم د اکاډميسن صديق روهي له نظره (ښه شعر هغه شعر دی چې د وخت غوښتنو ته ځواب ووايي.) په هر صورت؛ اوس د سرليک سپړلو ته را وګرځو.

په يو بڼ کې بلبل ښکلي غږونه باسي چې په اورېدو يې ښه احساس رامنځته کېږي، همداسې شعر هم بايد د شعر په ژبه وويل شي، چې په اورېدو يې بايد تاثيرات رامنځته شي. د شعر د اهنګ تارونه لکه د بلبلو نارو غوندې په بڼ کې بايد انعکاس ومومي، چې په داسې توګه د شعر وزن په پام کې نېول کېږي او د شعر يو راز هم دا دی چې په اورېدو يې مړاوی ګل وغوړوي. په ښه شعر کې د سېمبولونو کارونه د ټاکلې موخې څرګندولو لپاره راړول کېږي او شاعر غواړي چې خپله خبره په بديع کې د معنوي او لفظي ښکلا په مرسته او په بيان کې د مجاز، د استعارو پيوندولو، د قرينې په ايښودو او د علاقې په اړيکو سره ژور مفاهيم او د ماناګانو ابهام، ايهام او څرګندې بڼې را وپنځوي.

د وسيم مومند په شعري ټولګه کې د صنعتونو، مضمون، فورم او نورو اړخونو نه بحث په کار دی چې د طبيعت او د زړه خبره يې د شعر په ژبه بيان کړې ده. د نمونې په ډول د څو صنايعو يادوونه يې کوو.

تلميح صنعت په شعري کلام کې مونږ ته يوه مشهوره تاريخي پېښه او کيسه را په ګوته کوي چې تېره شوې صحنه شاعر په خپل شعر کې د نغوتې په ډول منعکسوي، دا کار ځکه کوي چې شعر يې له معنوي اړخه پوخ راشي او کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبره یې د تېرې شوې پېښې پر اثبات پیاوړې کړي. د مومند صیب په شعري کلام کې تلمیح صنعت څو ځایه تر سترګو کېږي، لکه:

بدن زما دی اموختــه نېغو باڼو په غشــــو
ستا په چړو به څه ونه شي ذوالفقار راوله

***

چې غشي په لېندو کې صیادان یې اموخته دي
مېږي کوترې شان ته رفاقــت څنګه ونه کړم

په لومړي بیت کې د ذوالفقار کلمې په تړاو یوې تاریخي کیسې ته اشاره شوې ده، د مشهورو لغت نامو له نظره، لکه دهخدا او فرهنګ معین کې راغلي دي، ذوالفقار د منبه ابن الحجاج یا د عاص بن منبه توره (شمشېر) و، چې حضرت علي (رض) د بدر په جګړه کې هغه یې مړ کړ او توره یې ورته پیامبر ص ته ورکړه. یو کال وروسته د احد په جګړه کې، کله چې د علي رض توره ماته شوه، نو هغه له پیامبر ص څخه د تورې غوښتنه وکړه، ذوالفقار یې هغه ته ورکړ، تر څو علي رض په هغه باندې د پیامبر ص ساتنه وکړي او دښمن پرې په شا تمبه کړي. ددې یادوونه هم باید وکړم، ولې یادې تورې ته د ذوالفقار نوم ورکړل شو؟ ځکه ذوالفقار له فقاریه څخه اخیستل شوې کلمه ده، چې د انسان د شا مریو (ستون فقرات) په مانا ده، ویلل کېږي چې ددې تورې په شا د انسان د فقراتو په څېر ټیټې او ژورې نښې وې، نو ځکه یادې تورې ته ذوالفقار وویل شو، همدارنګه د یادې تورې د څوکې بڼه لکه د مار ژبې په څېر دوه تېزې او نازکې څوکې درلودې. دلته مومند صیب د شعر پورتني بیت کې خپل رقیب ته وایي چې هسې هم دلربا پرې هره ورځ د نېغو باڼو په غشو ګوزار کوي او د شاعر بدن داسې سترو ګوزارو باندې عادت دی، نو رقیب ته یې کوت خندڼه دا ده چې په چړو باندې دده بدن هسې هم تاثیر نه کاندي او واړه ګوزارونه دې پر ده نه کوي، ذوالفقار هغه سرکښه توره ده چې د محبوبې د نېغو باڼو غشو ګوزار په څېر، دده بدن ورته مقاومت نه شي راوستی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنګه په دویم بیت کې هم یوې مشهورې تاریخي کیسې ته اشاره شوې ده چې تېر تصویر پکې ښکاره نغښتی دی، هغه تاریخي کیسه د کوترې او د مېږي کیسه ده، چې موخه یې د دوستۍ او رفاقت اړیکه ساتل دي، باوري یم له دې کیسې سره ټول اشنا یوو.

د وسیم مومند په شعري ټولګه کې د نورو صنعتونو بېلګې هم لیدل کېږي، چې دلته یې یوه بله بېلګه د تکرار احسن څخه را اخلم.

ستا د شنو بنګړو شرنګار ته عاشقان شو غلي غلي
ستا د سپین مـــخ پلوشو ته پتنـــګان شو غلي غلي

د مضمون په برخه کې شاعر محمد وسیم مومند د وطن دوستۍ، پرمختګ، عشق، فراق، هجرت، تصوف او د پند ـ نصیحت اشعار ویلي دي چې یوازې د نصیحت او د پند بېلګه یې راوړم. لکه:

د فاني نړۍ په لاره ځان هوښیار کړه
د ژونـــدون د حوادثـــو تابعدار کړه

په دې شعري ټولګه کې سیلابوټونیک وزن ډېری په (۱۲،۱۴، ۱۵،۱۱) څپو کې ویل شوي دي چې د خپل اهنګ یې په کراتې انډول ساتلی، د اهنګ ساتلو لپاره د غزل په ځینو ازادو کرښو کې یوه څپه ډېره راښکاري چې د کمښت په سبب مات اهنګ را پرېږدي نو اړ یوو، یوه څپه ډېره؛ خو اهنګ روان پرېږدو چې د خوند تسلسل تر پایه وساتي. همدارنګه د شعر په ځینو مسرو کې مات اهنګ را مالومېږي چې غالباً د خجیز څانګې، نه مراعتول دي. هېره دې نه وي، په شعر کې د یوې قافیې دوه ځلي تکرار د قافیې اصولو له مخې عیب بلل کېږي، لکه ددې شعري ټولګې په ۴۲ مخ ـ په یو غزل کې د (سر) کلمې قافیه دوه ځلي تکرار راغلې ده.

ویناوال د شعري ټولګې د فورمونو په درشل کې په غزل، نظم، رباعي، قطعه، څلوریزې او دوه یزې (مثنوي) کې اشعار ویلي دي چې ددې ژانرونو په ساتلو کې ویناوال لوی لاس اخیستی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مومند صیب د شعر په یو بیت کې د خرافت مانا لټوو او بل بیت کې یې ارسال المثل صنعت راسپړو. (د یو مشهور متل په خاصه لار باندې راوړلو ته ارسال المثل وايي.) «بدیع ـ بیان، ۷۳م»

که د نېکو لارو مل یې نېک به ګرځې
که بد ګـــرځې نو د بدو انتــظار کړه

***

مینه تنکۍ وي، لېونۍ وي نور بیا شرم نه کړي
زیارته! ستا په کنـــــارو کې مې ګناه ولیـــده

په لومړي بیت کې شاعر د خپلې موخې افادې لپاره « بد به ګرځې، بد به پرځې» مشهور متل راوړی دی او په دویم بیت کې هغه خرافاتي کړنې ته اشاره کړې چې زموږ خویندې او میندې د خپلو حاجتونو رفع کولو لپاره زیارت ته ځي چې دا هېڅ شرعي جواز نه لري.

په پای کې زه ښاغلي محمد وسیم مومند ته ددې شعري ټولګې مبارکي وایم او د بغلان ادبي بهیر درانه کره کتونکي استاد جمعه خان توخی، احسان الله درویش او نورګل اندړوال څخه په مننې چې ملتیا یې راسره کړې، همداشان د بغلان پوهنتون قدرمن استاد پوهندوی سید مجتبی نایل څخه هم مننه کوم چې د همدې لیکنې بیا کتنې لپاره یې وخت راکړ. له لوستونکو مې تمه دا ده چې همېشه په یو شین بڼ کې لکه بلبلو غوندې په یاد اشعارو زمزمې وکړي. د خوشحال بابا ددې بیت په هیله:

همېـــشه به پرې نـــارې وي د بلبـــلو
دا چې ساز کړ نن خوشحال په ویل باغ

**مینه او درنښت**

**عبدالوهاب مومند**

**۱۳۹۸/۱۱/۲۳ل.ک ـ مرکزي بغلان**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ښکلا وسیم**

د خدای(ج) دنیا ښایسته ده، طبیعت ښکلی خلق شوی، انسان ښکلی او ژوند ښکلی دی، د ښکلا لیدو لپاره ښکلی ذوق او ښکلي لید ته اړتیا ده، د ښکلا په اړه د نړۍ پوهان سره بشپړ سلا ندي ځیني پوهان ښکلا مجرده او ځیني يې مجرده نه بولي خو بیا هم دواړه ډلې ښکلا ځانته منظور بولي، دا چې د شعر سکالو د وخت سره سم مزل وهي او د عمر په تېرېدو لا پخېږي، د پړاونو په زړېدو د ښکلا په وړاندې لید او ځیر ځواک لا پیاوړي کېږي او د غزل تر وروستیو تیندکونو شاعر د مینې زمزمې رواني وي.

د مطرب په خوږ اواز کې زمزمه وه ستا د حسن
ستا د سرو شونډو مسکا ته مطربیان شو غلي غلي

مومند صیب په شاعرۍ علمي بحث به د نظر خاوندانو ته پرېږدو، خو د واورينې هر مخ په اړولو به په ښکلا مبین وسیم ومومو، چې د لفظونو ګلپاڼې يې دومره خوندورې پېيلي دي، چې د کمال حد يې له ورایه ځلېږي.

خوږ باد وچلېږي د سپرلي ښکلی موسم دی
شبـــنم په شنه کاسه کې د ســـــبا مزه کوي

***

دنیا څومره چې بدرنګه، ښکلې ښکاري
هغه دا چې ښکلی حســـــن په اثـــــر دی

مومند صیب په ښکلا هېڅ حد نه ماتوي، ژوند ورته په نشت امکاناتو هم خپل محبوب تر څنګ ښکلی برېښي، خاورینو کنډرونو کې هم ښکلا لټاړي، د ښکلا لید بازار يې ښه تود دی.

کېږدۍ ده زما خوښه چې ته وای د ژوند شریکه
دا شـــــنې د غرو لمنې محـــــلونو کې لا څــــه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د میینو کیسې او ډېرو ناولونو پای د ډېرو میینانو وروستی مزل په پردېسي او فراق پای مومي، که څه هم مومند صیب د مینې مست سفر کې د غمازانو د اورونو له څپو روغ پاتې نه دی؛ خو دی په کې بریالی بریښي په ازغنو ښاخو کې یې د مینې بهار ته رسېدلی، کټ مټ لکه د اندلس په زرغون بڼ کې د فلورا شهزادګۍ په قول چې هنري غلام ته مینه د زړه څخه راوتلې او روح سره وصلېدونکی اثر بولي، چې تل به ژوندۍ وي، یعنې پای یې ناشونی دی.

کوم ګل چې مـــا کرلی محـبت په شین چمن کې و
ها بوټي خو لا پربېږده چې دا پاڼه یې زرغونه شوه

***

قسمت کړی چې خپل کار وه
زمـــا شــویـې او زمــــــا وه

مومند صیب سولیز ژوند او سوکاله ټولنې ته هېڅکله هم ناوخته نه بولي، په سوله کې ژوند هر کله ښکلی بولي په ګډه تر منزله مزل، د سوکالۍ او خوښیو کېږدۍ تر ساحلونو رسول یې ترنم زمزمو کې ناڅېږي لکه چې درویش دُرانی وایي:

که زړونه سره یو کړو او لاسونه سره ورکړو
دا کاڼي به لالــونه شي دا بوټي به لونګ شي

مومند صیب وایي:

دا اوس هم لا فرصت دی د ورورۍ لاسونه ورکړي
دا نه چې سره مــــړه کړو په ګلبــهار او په سالنګ

پای کې د ښاغلی محمد وسیم مومند صیب ته د لومړۍ شعري ټولګې (واورینه) چاپ مبارکي وایم هیله مندیم چې پاتې نسلونه د بغلان مازیګر د وسیم صیب د غزل په زمزمو لا ښکلی کړي، لوی خدای(ج) څخه د کرکر د ګلونو کاروان همداسې روان غواړم او د مومند صیب په دې بیت مو لوی رب ته سپارم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



طبيبانو لاس مې نيسئ اخ بې شانه زړه مې رپي
د نســيم خوږو نغمــو ته لکه پاڼه زه رپيــږم

**مينه او درنښت**

**عبدالمبين (صافی)**

**مهارشي داياناند پوهنتون- هندوستان**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د شاعر څو خبرې

واورينه زما د زړه اواز چې د زړه له تل نه راوتې او د قلم په څوکه ليکل شوې ده. د وطن ښېرازی، د طبيعت ښکلا او د وطن ناخوالې زما په شاعري باندې ځواکمن اغېز کړی دی.

زما هوډ او د کتاب چاپول ډېر واټن درلود خو تاند او هڅاند ځوان عبدالوهاب مومند په هڅوونه او زيار زما ليکنې يې دې ته جوګه کړې، چې د چاپ په بڼه راووځي، مننه ترې کوم؛ او هېره دې نه وي ښاغلي ګل رحمان رحماني صيب نه هم نړی مننه چې زما په اثر يې سريزه ليکلې او زما حوصله يې څو برابره کړه چې لا نور هم وليکم، زه يې د يو شاعر په صفت د کلاسيک او معاصر شاعرانو سره پرتله کړی يم. د ښاغلي رحماني صيب ليکنې زما په روح او ځان ژور اغېز ښندلی دی. مننه رحماني صيب!

**درنښت**

**محمد وسيم مومند**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ښکلې مينه

څومـــره ښکلې ميـــنه ستا وه
چــــې د عشــق نـــازو ادا وه

چې انــــګار مې په بــدن شو
ســتا د ګل په شان خـــــندا وه

رقيـــبان چې شـــول ناکامـه
دا د عشـــــق پــــته حيـــا وه

شمعې خړې کړلې ســــــترګې
ســـتا د مخ ښکلې ښـــکلا وه

زمــــــانې له چې زه ګـــورم
دا د هغــــه وخـــت ليـلا وه

قسمت کـړی چې خپل کار و
زمـــا شــــــوې او زمـــا وه

نصـــــيب راکړله په لاس کې
وســــيم وايـــي چې هُما وه

ګل بهار کالوني پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خزانې

خـــزانې چې د لعلــــونو یې بهـــتر دی
خوږ نســـیم چې ښکلی لړي د ســـحر دی

چې شـــراب څـــومره تراخه یې خواږه لړي
خوشبـــویي لکه د مشـــکو او عنـــبر دی

شونډې سرې سترگې چې تورې کړي محبوبه
تورې زلفې په سپـــین مخ لکه محـــشر دی

زه چې څومـــره فریاد کړم، فریـــاد نه اوري
داسې ښکاري چې محبوب مې پرې خبر دی

که اوس څـــومره چې محبـــوبه شي خبره
زړه یې ویشـــتی له اول نه په خنـــجر دی

دنیا څومـره چې بدرنگه، ښکلې ښــــکاري
هغه دا چې ښکلی حســـــن په اثـــــر دی

گل گلاب چې کړي موسکا په شین چمن کې
بلبـــلانـــو اوازو کــــې هـــم هنـــر دی

د خـــزان په موســـم پاڼې چـــې رژېږي
د سپـــرلي په لاره زېـــری د اخـــتر دی

وسیــــم څومره پرهـــاري او فریادي شي
د وصال په څپـــو ډوب په سمنـــدر دی

۱۹۹۶/۹/۵ ع
گل بهار کالوني پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شين اسمان

**په اســـمان کې چې برېښنا شي باد باران په اورېدو شي**
**سمــــــــندر په خامـــوشۍ شي توپانونه په څـــپو شي**

**گل نسيـــم ته په خنــــدا شــو، ځه محبوبې غـــرځنې له**
**تورو سترگو له چې ځيـــر شم زړه گوگل کې په ټوپو شي**

**ســـره جوړه، سپين مړوندونه، تورې زلفې، سره لاســونه**
**زړه چې ځومـــره صبرومـــه لا هغـــومره په سلگـــو شي**

**قد قامـــت د نښـــتر ونـــــه د يـــار مخ د څوارلســــمې**
**سپوږمۍ هله شي خجله چې سپين مــــخ په پلوشو شي**

**شنکي باغ کې راښکاره شي سور کميس شنه لوپټه کې**
**گــل گلاب په شرمېــــــدو شي بلبــــلان په ولولو شـــي**

**ديو قامـــته غونـــدې شــــپه کې هيـاهو يي د ځناورو**
**کومــــــه لار کې چې روان يم هغه لار د رنگيـــــنو شي**

**هره اوښـــــکه چې راڅاڅي د ځيـــگر په سرو لمبو کې**
**رقيـــبان شمعې کړې بلې پتنگان په سوځېـــــدو شـــي**

**چې کچکول کـــړمه په غاړه ملنگي جامې په تـــن کې**
**شم روان د يار کوڅې ته ټول مخلوق په نظارو شـــــي**

**زړه به څـــومره صبرومه چې د يار کوڅې ته نه ځـــم**
**وسيم ياد شي د يار غاړه اور يې بل په انـــدامو شـــي**

۹/۹/۱۹۹۶ع

پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ښکلی بهار

څه ښکلی بهـــار دی چې محبوبه وای او زه وای
څه ښکلی گلزار دی چې په شین چمن پراته وای

بلبـــلو په چغـــارو بـــورا گانو په نڅـــا کې
ډوب په خپـــله میـــنه د بورا په تماشــــه وای

د گل په خوشبويي کې، سپوږمۍ په رڼـايي کې
څُم وای د شرابو او پيـــاله ستا په سيــــنه وای

څنــــگه چې زه زانگم ســـتا د مینې په ټالو کې
هســـې زنگېدلی ستا د میـــــنې په کیـسه وای

نازونه ادا گانـــې ســـتا څـــومره جـــانانه دي
هسې دي ښکلا شته چې ستا نوم هم گلبشره وای

رقیـــــب په پېغورونو زما هېـــــڅ پروا رانه شي
عزم ســــره یو وای رقیــــب کور په ویرانه وای

څومره وســـیم خوښ دی ستا د هجر په څپو کې
راکـړې به ته ماته پاکـــه میــــنه نـــذرانه وای

۱۵/۹/۱۹۹۶ع

پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

زه خو ستا په مينه مست يم
په شـــرابو مـــــلامت يـــم

له زمـرو مې نه شـــي وېره
ځان قربان ستا په خلقت يم

عـاشقي پـه سمنـــــدر کې
لامبــــو زن او با همـت يم

د جـــــفا مقـــابلـه کې
سپينه تـــوره د هيبت يـــم

ستا د عشـــق نـاز او ادا ته
زه ټـــوټه د شرافــــت يم

ستا د ميـــنې په خيالو کې
زه ماليار باغ د جنـــت يم

د رقيـب په سر ګـــوزار ته
زه څـــرګنده حقيـــقت يم

زه خـــو ستا ميـنې وفا ته
شـرمنـــده او خجالــت يم

د رقيــــب لېوني ســــر ته
سـره لمبه زه د قيامـت يم

کـه يې لاس رانه وانخېست
زه وسيم پرې جوړ افت يم

۱۹۹۶/۹/۳۰ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بنګړي

**ستا د شـــنو بنګړو شـــرنګار ته عاشقان شو غلي غلي**
**ستا د سپـــین مخ پلوشـــو ته پتنګان شـــو غلي غلي**

**که ته څومـــره راښکاره شې په ساده جامه محـــفل ته**
**د پایزېبو هـــر یو شـــړنګ ته رقاصـــان شو غلي غلي**

**ستا د ســـترګو نه شـــراب رابهېده په ښکلي مـــخ ته**
**دا ساقي چې ورته ځـــیر شو شرابیان شـــو غلي غلي**

**د مطـــرب په خوږ اواز کې زمـــزمه وه ستا د حسن**
**ستا د ســـرو شـونډو موسکا ته مطربیان شو غلي غلي**

**تا چې څنګه قـــدم کېښود د هـوسۍ په هر قدم کې**
**سـتا د هـــر ګام اخېستو ته سیلانیان شـــو غلي غلي**

**چې مې غېږ ته رانږدې کړه د ښایست سپینه سپوږمۍ**
**زمـــا دغې حرکـــت ته رقیـــبان شـــو غلي غلي**

**زه چې څومـــره صفتونه ســـتا د نـــاز او د ادا کړم**
**د وسیم ستا هر صفـــت ته صحافیان شـــو غلي غلي**

پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

په تـــورو ســــترګو کې راواړوه شـــــــراب ليلا
د تار د زلفو راته جــــــــوړ کړه ښــــه رباب ليلا

چې ته نـازېږې په خپل حسـن او ښکلا محبوبې
د خداې دپاره په زړه جــوړ نه کړې خوناب ليلا

چې زما روح ســتړی ستومانه په هــوا کې شولو
له ترمو اوښکو نه مې جوړ شـــــــولو سيلاب ليلا

نا ترسـې دومــــره ته ډېر ظلــم او جفا مه کوه
راباڼـــدې بل شول ټـــــول اورونه د کباب ليلا

بېلتانه سيـوري ته يې عمــر پاڼې ژېړې کړلې
په اخــــر وخت کې راتـه جوړه شه افتاب ليلا

چې تمنا د عشق څـــوک شرم کړي نادانه به وي
د زړه اخـــــلاص نه راتـــه ونيسه ګـــلاب ليلا

چې په ټول عــــــمر ژړېدلی کړېدلی وســــــيم!
په ژونـــــدون زېـــری ورته وښه شبـــاب ليلا

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

**کمڅی کمڅی دې زلفې ټال وهـي په سباوون کې**
**دنـيا به ښکلې ښـــکاري دا زما او ســـتا تړون کې**

**انـــداز د محبت دې زړه راښکـــونکی وي جانانه**
**د مړو سترګو کتو کې او د سرو شـــونډو سمون کې**

**موســـم په چلېـــدو کې د شبـــنم په اورېـــدو کې**
**چغار چې څومـره خوند کړي د بلبلو په پاڅون کې**

**خوبـــونه چې زه ګورم ســـتا د فکـــر په خيالو کې**
**کېنم د اوبـــو خواته ورته وايم نېـــک شګون کې**

**بلبـــــل په زړه چې ننـــوت اغـزی د ګل د څانګې**
**تصوير يې د وفا و په دا ســــــره سينه ګلګون کې**

**دا شـــان زما پښتون و زمـــا ميـــنه پښتـــــنه وه**
**دا ژوند چې وسيم تېر کړ د غمازو په لمسـون کې**

پښتونخوا - پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

زه به زار شمه له تا نه، ته خــو لړ موسکی موسکی شه
شرابي سترګې چې ستا دي ته خو لړ مستی مستی شه

ستا د عشـــق په غم کې ژاړم سر ببر څېرې ګرېوان زه
زه چې خنــګه لېـــونی یم ته هم داســـې لیونی شه

زما د میـــــنې صـــداقت ته د رقیــــب نظر را واوښت
غلیـم سترګو نظر مات ته، ته لــــوګی شه سپېلنی شه

د فرهـــــاد په شان کـــــړیږم زه د غـــــــرونو په وهلو
چې شیرینه د فرهـــــاد وه ته په شان د شـــیرینی شه

وسیــــم کړی انتظار ډېر د ســــپرلی ښکلي موسم ته
په ګلـــــونو د ګلشـــــن کې ته هـــــم ښکلې ګلالی شه

۱۳/۱۰/۱۹۹۶ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تورې سترګې

ســــــتا څېره ده د ګلونو، تورې ســــــترګې شــرابي
نــرۍ غـاړه دې اوچـــته، دا ســــرې شـــونډې ګلابي

که هر څومــــــره بې وفا يې زما ځــــــان لــه تا قربان
دا مې تړمې تـړمې اوښــــکې چې په مــــــخ زما راځي

ځه! د ســــتا په تسلۍ کې زړګــــی لږ څــه ارام اخلي
بيا چې زړه مې راته وايي ورته ځـــــان کــــړه قرباني

کوم خبـــــره د رقيــب شي په وســــــيم شي څه اثــر
دا چې وينه په جـــوش راشي زړه مې جوړ شي توپاني

۲۰/۱۰/۱۹۹۶ع
ګل بهار نمبر۳ پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

د لمر په پلـــوشو کې دا دنيا ځومـــره رنگينه شوه
خوږمن مې پرې زړگی شو چې ليلا په ما مينه شوه

د ږومبي ځل په کتو کې رنگ يې ســــور لکه انار و
د عشق په ولولو کې ځومره سره وه دا بيا سپينه شوه

دا چا داســـې يې ويلې محبت په چا اثـــر نه کړي؟
دا حوره دې ترې زار شي لکه دا ځومره حسينه شوه

کوم گل چې ما کرلی محبـت په شين چـــمن کې و
ها! بوټی خو لا پربېږده چې دا پـاڼه يې زرغونه شوه

وعـدې يې د وفا شوې چې د مينې قرباني کې شوم
وسيمه! ورځ تياره شوه شپه يې لا هم ډېر رنگينه شوه

پېښور - پښتونخوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پېزوان

په ســـــرو شـــونډو ګلابو دې پېـــزوان مـــزه کوي
اوچـــتې نـــرۍ غـــاړې ته مـــرجان مـــزه کـــوي

چې زلفې دې ول ول کړي بیا یې راپرېږده په سپین مخ
په تـــــورو تورو زلفـــــو ســـره ګلان مـــزه کـــوي

دا میـــــنه خو هـــر څه کـــوي د حـــده پـــورې مینه
د یـــار په پـــاکه میـــنه ځـــان قـــربان مـــزه کـــوي

کیسې چې څومـــره خوند کړي سر مې ایښی په مړوند
خـــورې خـــورې کیـــسې چې د جانان مـــزه کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ښکلې خندا

**په ژړا کې را په يـــاد شي ستا د خولې ښکلې خندا**
**زړه مې موړ شي د دنيا نه چې زه ګـــورم ستا ښکلا**

**هوس کې چې زه ګورم مينه اور شـي سره لمبه شي**
**دا ژوندون به څنګه تېر کړم چې مونږ يو په دې دنيا**

**د عشـــق په دا جذبو کې که ته څـــومره غيرتي شوې**
**مخ کې وروسـته لاره ګــوره، سره نشو مونږ رســـوا**

**په سپين مخ چې راخـــورې کړې تورې زلفې لېونۍ**
**په شنو پاڼو کې مخ پټ کړې ګل ګلاب ترې کړي حيا**

**په دنيا کې څه هســتي وي او مستي وي که عـــزت**
**دا محل په ما سـور اور شي که ژوند کړمـــه بې له تا**

**هجران چې ســـره سکروټه د وسيم په زړګي کېښوه**
**اخ! ســــوځېږمه کـــړېږم لږ نـــــږدې شه دلــــربا**

۱۹۹٦/۱۰/۲۸
ګل بهار کالوني پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

نشه د محبـــت ده شـــرابونـــو کې لا څـــه دي
ښايست چې ستا د مخ شته ګلابونو کې لا څه دي

واه! ژړېـــړم ســـتا د لاسه زمـــا ښکلې دلـــربا
څپـــې زما د اوښـــکو سيلابونو کې لا څـــه دي

مطربو خـــوږ اواز ته زما تنــــده نه ماتېــــږي
د شنو بنګړو شـــرنګار ته ربابـــونو کې لا څه دي

کېږدی ده زمـا خوښه چې ته وای د ژوند شريکه
دا شنې د غـــرو لمنې محلـــونو کې لا څه دي

رباب مې وای جوړ کـــړی ستا له تارو تارو زلفو
مطـــرب ته مې ويلې ســتا سازونو کې لا څه دي

خوشبـــو مې په دماغ شوه ستا د زلفو سرو ګلانو
ماليار ته مې اواز کـړو ستا باغونو کې لا څه دي

د ســـرو غرمو وهلی انتـــظار کې ســـتا ولاړ يم
شربـــت د شونـــډو راکړه امېدونو کې لا څه دي

لږ مې خوا ته رانږدې شه سر مې کېږده په مړوند
وســـيم ته خـولګی ورکړه ارمانونو کې لا څه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

اور رابانــدې بل شــــو چې راکــړې یار سزا ده
همدا مې غلطي شــوه ښکل کـــــړې مې لیلا ده

میـــنه چې زه کـــړمه په ښـــکاره وایم هر چا ته
دوست، دښمن خبر ده چې مې کړې ښـه وینا ده

دانـــه دانه له شـــنو بوټـــو راټـــول کـــړمه ګلان
څولۍ کې به ور وړمه وعـــده کړې مې بیګاه ده

هر څوک چې ښه صفت کړي د خپلې یار د مینې
زه کړمه دا صفــــت چې زما ســـتوری د سبا ده

نن زمـــانې مینې ته چې ګـــورم وســـیم خاندي
میـــنه چې ما کـــړې دغــــه میـــنه په رښتیا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

زه هلــه لېــونی شـــوم تا خمــار خمــار ویل
بلبــلو په چمــن کې چې ګلـــزار ګلـــزار ویل

زړګی زما زخمي شـو چې فریاد راته په غــوږ شو
ګلـــونو په صحـــرا کې چـــې بهــار بهــار ویل

په سترګو مې تیاره شوه رڼا ورځ راباندې شپه شوه
یتـــیم په یــخه واوره کـې انګــار انګــار ویل

انســـان وي او که بوټی ضرورت شته محبـــت ته
دا ځکــه به شـــنو بوټو چې مالیــار مالیــار ویل

ها میـــنه به د مـــور راته هېڅکله پیـــدا نه شي
په نیـــمو نیـــمو شـــپو راته قـــرار قـــرار ویل

چې میـــنه په رښتـــیا وه د لیلی او د مجـــنون
په ټـــول تېر شـــوي عمر یې دیدار دیـــدار ویل

وســــــیم چې کړېدلی و د تـــور رقیب د لاسه
اخ! دې په اســـوېلو کـــــې هـــم ازار ازار ویل

۱۹۹٦/۱۱/۲۸ع
پېښور ښار

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بې وفا

بدبخت د زمــــانې شـــوم چې صنم شوه بې وفا
بــدرنګه زمــانې کې مخکـــې لاړم پـــه جـــفا

ګرځـــم لالهانده کلـــه غـــرو کلـــه رغـــو کـــې
په سترګو مې اغزي شول چې نه خوب شته نه خندا

په شمـــع چې اوربـــل شـــي په ژړا ژړا به مړه شي
همداســـې مې زړګی شـــو په خنجر جـــــدا جدا

ارمـــان مې دا په زړه راســـره وايي د ګـل څانګه
سرې شونــــډې ما چېړلې تور زلفـــان بادې ســـبا

يقين مې شته په مينه چې موږ کړې پرې وعدې وې
دا تـــور د رقيـــب لاس و چېـــرې ما کړې ده ګناه

سل ځــــله رقيـــبانو جـــوړې کـــړې واويــــلا
ها! زما پـــوره باور شته چېـــرته بام چېرته هـــوا

اوس راغـــله زما خـــواته په خنـدا په خوشحالی
په خوله يې دا بيـان شته چې مې کـــړې وه خطا

الله(ج) په لار د حـــق کې د هـــر چا وي مـــددګار
دا ځکه وســـيم مخ ته رقيـــبان شولو رســـــوا

۱۹۹۶/۱۲/۳۱ع
سواتي ګيب، پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

چې د عشق په هغه لار کې چې عـذاب شته
د اغــزو ســره هــم بوټي د ګـــلاب شته

چې د مينې هغه سترګې پرې خـوږې شوې
خوشحالی نه يې ټټـــر باندې سېلاب شته

ســاقي ولې لاس رپېــږي په پيــالو دې؟
د ګلــرخې په کتــو کې هـــم شراب شته

د رقيـــب خنداونه شـــته په محبــت کې
دا خو ځکه هر مين په زړه خـــوناب شته

ساز د عشق خورې ورې چې انګازې شوې
وجه دا چې د وســـــيم په لاس رباب شته

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

**ستا په میـــنه کې کړیـــږم**
**ستا په حســـن کې ژړیـــږم**

**زړه مې څومره کــړمه صبر**
**زړه په ویـــــنو کې لمبیږم**

**ستا د سپـــین مخ پلوشو ته**
**د پتنګ په شان ســـوځیږم**

**ستا د هجر تیارو شــــپو ته**
**لکه شمـــعه هــم بلیـــږم**

**ستا د مړو سترګو کتـــو ته**
**لکـــه پاڼـــه زه رپیـــــږم**

**ستا د سټـرګو په باڼو چې**
**زه ټپي شـــم بیــا پاڅیږم**

**که ته لاس راتــه رانه کړې**
**دا ټــول عمـــر به کړیږم**

**زه وسیـــم چې ارماني یم**
**ستا په حســــن هوسیږم**

۱۹۹٦/۱/۵ع – پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ساحـــــل په غاړه کېنم چې ســـوچ وکـــــړمه له ځانه
دنیـــا ته چې لــړ ځیــــر شم دا دنیا ده ســـرګردانه

لعلــــــونه سمنـــــدر کې دي هر چا ته دي مـــالومه
محنـــت پسې ونه کـــــړې چـــا ونه مـــوند په اسانه

زمــانې ته چې زه ګـــورم زمـــانه شـــوه لېـــونۍ
ورور ورور وينې ته ناست دی پلار يې ګوري په حيرانه

چې پـل ږدي په مخ ګـــوري دا حالات دي زهـــرجن
دا نه چې هســــې خوار شي دا د خپـــل عقـــل نادانه

رښتيا مې ترې ونه ليـده که دوســـــت و که دښمن و
دا ځکه زه فـــرياد کړم زړه مې مــــوړ دی له هر چا نه

خانـــي به يې خاني وي پادشـــــاهي په پادشاهي کې
په ګېــــډه به ښه مــــوړ وي بيا به تمه کــــړي ګدا نه

دوه ورځې په دوستي کې دې کوم غوړ لستوني ګوري
اوبه وړي بوســـو لانـــدې بيا خبـــرې کــړي وفا نه

۱۹۹۷/۱/۸ ع
پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## انصاف

**سرودونه ترانــــې دي چې غــــرېږي رنــگ په رنگ**
**يو په اور د لمبــــو ســـوځي بل كـــوي د پيالو شړنگ**

**كه اختيار انصاف ته وركړې نو انصاف شي بې انصافه**
**خو دا ځكه مې زړگی شي دې انصاف ته په غورځنگ**

**حالاتو ته چې گورم هېـــڅ انصـــاف نه شته په چا كې**
**ورور به ورور ته به گوابنېږي پلار د زوی سره په جنگ**

**اسلام شو تـــرې كمزوری كه عـــرب دی كه عجم دی**
**څوك خـــرڅېږي په ډالرو څـوك په پونډ د استرلنگ**

**دا اوس هم لا فرصـــت دی وروري لاســـــونه وركـــړو**
**دا نه چې ســــره مـــړه كړو په گلبهار او په سالنـــگ**

**د ســـولې خـــوږ اواز ته انتـــظار كـــوي كـــوترې**
**خپل ځانـــونه ترې قــــربان كړو لكه شمعې نه پتنگ**

۱۹۹۷/۱/۱٦ع

پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

دا وطن چې خـــومره شي ګلــزار بیابان ښکاري
ستا په راتلو کې ما ته څومـــره لوی ارمان ښکاري

که د راتـــلو په هـــر قـــدم کې زه ګلان وشیـــندم
ستا تصـــور کې سپېرې دښتې ګلستان ښـــکاري

که په وفـــا کې راته ډاډ د محبـــت رانـــه کړې
په ژړا اوښـــکو سمـــندر کې لـوی توپان ښکاري

دغه دنیـــا ټـــوله ائینه شي بې ریـــا شـي راته
ماتې هینداري په ټـوټو کې مې جـــانان ښکاري

که زه سوځېږم د هجران په سرو لمبو کې همېش
په شنو لوخړو د لمـــبو کې مې خـوبان ښکاري

د غمجن زړه په اسمانـــونو مې جـــفا وریځې دي
د داســـې وریځو نه د وینو ســـور باران ښکاري

وسیـــــمه! تا ته د بـــاران ګټه مـــالومه ښـــه ده
ددې بـــــاران نه راتــــه ښکلي بهاران ښـــکاري

۱۹۹۷/۱/۲۰ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خندا

**خنـــدا چې په ســـرو شـــونډو د اشـــنا مزه کوي**
**لونـــــګ په ســـور ټټـــر کې د ليـــلا مـــزه کوي**

**زلفې چې خورې شي په سپـين مخ د ګل خوبانې**
**خوَلې د محبـــــوبا نه مـــــرحبا مـــزه کـــوي**

**خندا د هر څه خوند کا که د خولې وي که د ګل**
**لاله چـــې وغـــوړيـــږي په بيـــديا مـــزه کوي**

**خـــوږ باد وچليږي د سپرلي ښکلې موســـــم کې**
**شبـــنم په شنه کاســـه کې د سبا مـــزه کـــــوي**

۱۹۹۳/۱۲/۲۵ع
حاجي کيپ، پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اباسين

اباسيـــن چې په څـــپو شي قيامتـــونه ترې جـــوړېږي
جـــوړه شمعې چې شي بلې محفـــلونه تـــرې جوړېږي

عاشـــقان چـــې جـــوړه نشي په محـــفل کې د يارانـــو
د مطرب دې رباب مات شي چې ســـازونه تـــرې جوړېږي

د ســـرو شـــونډو په شـــربت کې د شراب غوندې نشه ده
دا دوه سترګې چې څلـــور شي هوسونه تـــرې جـــوړېږي

ها! مطرب چې په محفل کې خپل رباب په غېږ کې واخلي
د هـــر تار په انګـــازو کې پيـــغامونه تـــرې جـــوړېږي

د وســـيم خو انتـــها نه شـــته د ميـــنې صـــداقت کـــې
خو دا ځـــکه يې په ذهـــن کې خيالونه تـــرې جـــوړېږي

۱۹۹۷/۲/۵ع
پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

دا ستا د عشق په سرو لمبو کې سوځېدلی ښه یم
دا ســتا د میـــنې افسانــو کې زوریدلی ښه یم

دا ستا د ســترګو د باڼو د نیـــزو زور چې نه و
دا د خـــــوارِه زړګي په وینو لمبیـــدلی ښه یم

پرهــر پرهـــر مې شو بــدن د محبــت پټی ته
پټی ونه شوه زه همــــداسې کړیـــدلی ښه یم

زه د غمــاز په ستـــرګو خــاورې د وفا شیندمه
دا د جانان د تـــورو زلفو مــار خـــوړلی ښه یم

زه ستا د میـــنې سبــا باد ته انتـــظار کـــومه
که باد رانغی په انګـــار کې اوسېدلی ښـــه یم

ما د وسیـــم په نصیحت چې کـوم عمل ونه کړو
دا د هجــران په خړ توپان کې الـــوتلی ښه یم

۱۹۹۷/۲/۱۵ع
پېښور، ښار

(c) ketabton.com: The Digital Library



## وطن

ای وطنه! ځان دې کلـــک کړه هـــره لوټه دې فولاد کا
په شـــــنو بوټو دې خـــزان شو هر يو ګل ځکه فرياد کا

د وطـــن تنکي ځـــوانان دې انتظار سترګې په لار دي
ښه مغـــــزونه دې فرار شول هر بچی دې خپل استاد کا

په سپـــرلي کې خـــزان راغی دا عجيبه زمـــانه شـــوه
هر يو ګل چې داغ ليـــدلی په شبـــنم باندې يې ښاد کا

هر زمری دې ويــــده شــــوی پرې کړنګ د اسماني شه
دا هر غـــر د هنـــــدوکش دې هره څوکه دې شمشاد کا

پلار د زوی دلاسه مړ دی ورور د ورور وينې ته ناست دی
هر يو سيـــــند دې توپاني كـــړه د غليـــم ببری برباد کا

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تا په غېـــږ کې خپل مېـــړانو ابدالي شانتې بچيان دي**
**تېـــــر درســـونه د غيـــرتو خپل مشـــرانو ته په ياد کا**

**چا به خـــرڅ کړي په ډالـــرو چا ورکـــړي په ســرو زرو**
**اوس نو چېرته اکبر خان شته دا هېـــواد به بيا ابـــاد کا**

**دا کابـل يې ســـتا ويجاړ کړو ناوې پېغلې شوې شهېدې**
**دا اوس کوم داســـې احساس شته لکه چېغه د فرهاد کا**

**ټوله شـــپه توره تروږمی شـــوه ټوله ورځ دود د باروتو**
**سپېنه وربـځ شه بيا باران شه دا خفه زړګي را ښـــاد کا**

**وسيــــــم ټول عمر په دعا دی ستا د ګوډ ګوډ ابادی ته**
**د دښمن په سر ګـــوزار شه بيا دا ورک يې ببخ بنياد کا**

۱۲/۱۲/۱۹۹۳ع
حاجي کيپ، پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

**کله نا کلـــــه چې هـــوا په دې چمـــن راشـــي**
**ښکلي مـــوسم ســــــره نغمې د ګل ديدن راشي**

**بلبل به جوړې کړي نارې د خپل هجران په خاطر**
**د خـــزان باد چې د سپرلي په دې ګلشـن راشي**

**داسې ســــوځېږم د جـــفا تــــــودې هوا ته زه**
**لکه د شمـــــعې نه پتـــنګ ســوی بـــدن راشي**

**څومـــره کړېږم دومــــــره خيال مې د اشنا ساتم**
**لکه بـــورا چې د اغـــزي په درد، دردمـن راشي**

**داســې څـــير ګورمـــه د يار خمـــارو ســـترګو ته**
**داسې ښکارېږي چې مينوش په زړه خوړمن راشي**

**دا ســـتا د سرو شـــونډو شـــراب چې زه نشه کړمه**
**وســــيم به څنــــګه په زړګي کې ارمانجن راشي**

۲/۳/۱۹۹۷ع
پېښور ښار

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

د ســـحر باد چې دا ګلـــونه غـــــوړولی شي
دا د خـــپه زړګي غــوټۍ به هـــم سپړلی شي

په یو نظر کې چې د ســترګو لاندې دا وګـــوري
څوک چې بې خوده وي اسمان کې خېژولی شي

چې په زړه کې د یار غـــم ورته پیــدا نشي نو
دا رندې ســــترګې هم په غــم کې ژړولی شي

دا تا که څـــومره هجران غرو ته پناه کړی ځان
د میـــنې غږ به هم قاصـــد در رســـولی شي

دا ته که لاړې د جــفا سـیوري ته کېـــنې بیا
دا د غــــم وریځې د اســـمان نه ورولی شي

که ته لاس د وفـــا راکړې او لیـــــلا شې زما
وســــــیم به تل دا خپل رقیب هم کړولی شي

۱۹۹۷/۳/۵ع
پېښور، ښار

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

نادانــــه ده بلبله چې د ګـــــل په ســــــر چغېږي
په شــپه کې چې سېلۍ وي نو ډېـــــوه کله بلېـږي

دا به څــــو ورځې ژونــــــدون وي د بورا او د بلبل؟
سوړ باد چې راوچــــت شي د اغزو سره شــپه کېږي

دا چا چې ویل وفا شــــته په ګلـــونو د ګــــلاب کې
غمـــاز په یو کتــــو کې رنګ يې زېړ شي هم رژېږي

پتنګ چې ځان پرې سوځي دا د مینې په لمبو کې
بې ځایه نه سوځېـــږي ځکه شمــــــــعه قربانېږي

کله چې ګلـــونه پاڼــې، پاڼې په چــــــمن کې شي
بلبله شـــــي ناچاره د زړه درد نه هـــم چغـــــېږي

هجران غمـــــونه ډېر شي او دا زه چې شــــم یوازې
زړګي نه مې ســــرې وینې په ګوګل کې بیا څڅېږي

عاشق چې نامــــراد شي کله ســــترګې وچې نه شي
یتیم په شان بې موره بیا په ســــرو ســــترګو ژړېږي

وسیـم دا نصیحت دی چې هېـــڅ کله زړه ورنه کړې
کوم چا چې زړه ورکړی هم ســــوځېږي هم کړېږي

۱۹۹۷/۳/۱۵ع – پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

**يا مې تـړمې تــــړمې اوښـــکې يا مې هغه سېــلابونه**
**يا مې سوړ، ســــوړ اســوېلي دي يا مې هغه تــوپانونه**

**دا جهان چې په ګـــردش دی دا دی هر چا ته مـالومه**
**زما مړه شـــــول امېـــدونه، زما مړه شول حســــرتونه**

**داسې ورځ شي داسې شـــپه شي کله مينه سره لمبه شي**
**زه چې ژاړم په ژړا کې راپــــه ياد شــي تېر وختـــونه**

**کاينات کې تغيرات شته او په ځمـــکه هم بدلون شـــته**
**داسې شـــين بوټي ولاړ وي چې پـــرې راشي خـزانونه**

**کله لمر چې راخورې کړي داسې سپينې سپينې وړانګې**
**طبيعت داسې قانـــــون دی چې په وريځو کړي حکمونه**

**لمر په دومره لوی وړتـيا کې بيا په وريځو کې پنهان شي**
**د خدای(ج) هغه لوی هســـتي ده چې ترې راوړي بارانونه**

**د وســـــــيم د زړګي حــال ته راچاپېر شي غورځنګونه**
**سمندر کلـــــه خامـــوش شي کلــه راولي موجـــونه**

۱۹۹۷/۵/۲۰ع

پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

کله بــاد کلـــه بــاران شم
بیا روان په بیـــابان شـــم

کلـــه اور شـــمه ســـکروټه
کله وریځ په شیـن اسمان شم

بیا سپلی شـــمه په شپه کې
بیا په ورځ کې خړ توپان شم

زه اســـیر شـومه د زلفـــو
مرغي د خپـــل جانان شـــم

خوله چې ډکه د خنـدا شي
خـــزان باد ته بهاران شـم

شربـت راکړي د سرو شونډو
بیا مدهوش بې میستان شم

چې وعـدې کې وفا وکـړي
جهانگـــیر ددې جهـــان شم

وســـیم ستا دې محـــبت ته
بیا پـــوره په دې ارمان شم

۱/٦/۱۹۹۷ع – پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

زمانه شوه داسې جوړه چې مې يار ونه ليده
په ژمي کې مې هيــڅ کله ګلــزار ونه ليده

ملګری ستا د لارې وي د خپــل حده پـورې
د نن زمانـــې يار کې مې اتبـــار ونه ليده

وعـدې به کړي ملا په شـان د حورو د جنت
د دوی په پســـته ژبه مې اقــرار ونه ليده

مخکې ميخانو کــې د ګلاب په شانې رنګ و
د نن په ميــخانه کې مې خــــمار ونه ليده

خواره واره ګلــونه د غـــرو په لمـن ښکاري
په يو ګلاب مې هيـــڅ کله ګلــزار ونه ليده

وسيم چې سرګردان دی د عشق په ګرمه لاره
دا زړه يې پــه کې هيــڅ کله قرار ونه ليده

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

ورمې د پســـــرلي دي خوشـــــبويو سره راځه
اغـــــزونه چې ګـــل اخلي زحمـــــتو سره راځه

ديدن کوې زما د مخ د ســــترګو په زيـــارت کې
که څــه بهــــانه نه وي لېــــونو ســـره راځه

اسمان د محبت کې مې چې ورېځې راښکاره شوې
وصــال بارانــه ژر شــه وصلــــتو ســـره راځه

ساقي که نن سخي شوې د مــدهوشو په محفل کې
محفل ته د شــــرابو له پــــيالو ســــره راځه

د زړه سترې ماحول کې راتــه تور مارغه هــوا کړي
راځې! نو دې محـــــل ته رنګيــــنو سره راځه

د تورو ولولو زلفـــــــو په تــال کې که ته زانګې
د خوب نه تمه مه کـــــړه شـــوګيرو ســره راځه

د عشق ښکلي ګلشن کې مې ګلان خزان دي
راځــه د خـــدای[ج] لپاره بهـــارو ســـره راځه

د سرو شـــونډو شـــــربت مې غمی د زړه ساتلی
وسيـــــــمه! که راځـــــې د ارمـــانو سره راځه

۱۸/۷/۱۹۹۷ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

**يار مې په سپين مخ باندې اوربل غوټۍ غوټۍ شو**
**زړه مې په گـوگل کې لکه گـل غوټۍ غوټۍ شو**

**سترگې داسې سرې شوې بې شـرابو مستې مستې**
**گل لکه لاله او د سنـبل غـــــوټۍ غوټۍ شو**

**زړه ته مې د رنگ امېـــــد چې کله را پيـدا شو**
**ونه د انـــار لکــــــه کابـــل غوټــۍ غوټۍ شو**

**ميو مېخانې کې د ســـاقي په لاس کې شرنگ شو**
**جام کې د شرابو مې حاصـــــل غوټۍ غوټۍ شو**

**سپــوږمۍ د څوارلســـمه چې را ورسېده بام ته**
**بوټی په درشل کې لکه گل غوټـــــۍ غوټۍ شو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

شنه د غره لمــن وه په کې جـــوړه وه کېږدۍ
سرو جامو کې ناسته وه د خيــال سپينه کوچۍ

سپين يې مړوندونه ســــورايي شان ته يې غاړه
داسې ښکارېده چې د کـــوه قاف وه ښـــاپېرۍ

ناز او په ادا کې يې حــــــورې ترېنه ځار شي
شان او په شــــوکت کې لکه روم نه شهزادګۍ

کله چې بهر شــــــوه د کېږدۍ نه په صـــحرا
دا وه په بېــــديا کې د ګلــــونو ګـــــلالۍ

منګی چې کړي په سر باندې چېنې ته شي روانه
مسته ده مســـتۍ نه داســـې ښــکاري لېـــونۍ

سپين غاښـــونه ښکاري لکه ســـتوري د اسمان
مخ يې پلوشـــې کړي د ښايست سپينه سپوږمۍ

وسيـــم چــــې و ايلبند ته قافلـــې ســـره روان
لار کې خـــوږ اواز وو د جَرس[1] او د شپـــــېلۍ

[1] جَرس ـ زنګولۍ ، د اوښ په غاړه بندېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

ته زما د زړه په کـــور کې مېلمنه شه
ته زما د ســـــترگو تور کې مېلمنه شه

ته د گل په شان څه زده کړه له چمنه
د بلبلو شـــرا شـــور کې مېلمـــنه شه

د مجنون تېر شوی ژوند ته نظر وکړه
د لیلا شانته پېـــــغور کې مېلمنه شه

د ډېوې شانتې ډېر سوځم په لمبو کې
د پتنگ په شـان په اور کې مېلمنه شه

لکه اوښـــکه په لېـــمو به درته رغړم
په دا لوند ټټر سمسور کې مېلمنه شه

لکه غر په سمندر کې درته پـروت یم
د وسیـــــم په دغه زور کې مېلمنه شه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ګلرخو قافله

قافــــله چـــې د ګلـــرخـــــــو روانېـــږي
په تورخـــم باندې ژړېــــږي چې تېـــــرېږي

دا څه حال شـــو، څه محـــال شو لویـــه خدایه(ج)
رڼې اوښکـــې په سپـــین مخ بانـــدې څڅېږي

څوک په لر شو څـــوک په بر شـــو بـــد قسمته
په ګـــوګل کې یـــې دوه زړونه جـــدا کېږي

څوک په غـــرونو کې چا مړه کړل څوک بې وسه
څوک زخمي شول څوک په سیند کې لاهو کېږي

څنــــګه مال د پاچـــاهي شاهنـــــشاهي وه
داسې وخـــت شو په کـــوڅو کې لیــــلامېږي

نور ملکــــونه په تعلــــیم بانـــدې ودان دي
د کابـــــل نه ښــــــه مغـــــزونه فــــرارېږي

تورې شپـــــــې مو د ســــــبا په انتـــظار دي
هغه لـــــمر به په هېـــــواد کله راخېـــــژي

وسیــــــــم تل د خپل الله(ج) نه تمـــــنا کړي
چې په ســــــویي ګلشــــــن باد بیا وچلېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

شمعې چې بلې شي په شپه کې پتنګان راځي
د مازديګر ښکلي ګودر ته عاشـــــقان راځي

ښکلی موسم د پســـرلي دی او زېـــړي ګلونه
له هـــره خوا نه په زړه ســـــوي بلبلان راځي

زه بـــه راټـــول کړمـــه ګلونه د ګلشــــن ورته
بيا په لاره کې شينــــدم چې ګل خوبان راځي

زه به اوچـــت کړمه لاســـونه د اسمان په لوري
بارانه ورو شـــه مـــه وريږه چې جـانان راځي

مطربه ورو شه شړنګ ورنه کړې د رباب تارو ته
عبادت وخـــت دی دې محل ته زاهـدان راځي

زه پرې غمـونه هېروم نور د مســتی نه په کې
دې ميــکدې ته قِسم، قِســــم ميخوران راځي

وسيمه! بس کړه نورې ماتــې کړه پيالې د ميو
پلار يې رضا شو ســره جوړه کې د ارمان راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

ته زما هســــتي هســـتي یې
ته زما مســــتي مســــتي یې

ته مې ژوند یې په ګلشن کې
ته زما دوســــتي دوستي یې

میــخانه کې زمـــا میــنې
ته زما ســـاقي ســـاقي یې

ته زما د پســـرلي زېـــری
ته خــــزان ته دښمني یې

ته زمـــا د زړه ټـــکار یې
ته مــــې روح ته ازادي یې

ته زما هســــتي هستي یې
ته زما دوستي دوســــتي یې

ته زما تـــیارې کــې لمر یې
ته مـــې زړه ته رڼـــايي یې

په قامـوس د سلطــــنت کې
ته شـاهي، شاهي، شاهي یې

په ګلــــونو د بهـــــار کې
ښکلــی رنــګ یې ګلابي یې

وســــیم ښپو کې ورته رغړي
زمـا زړه کې زنــــده ګي یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

زړګی مې هلـه په خنــجر ولګېد
چې په لیلا مـــې خپل نظر ولګېد

بلبلان ځکه شـــور فریاد کوي نن
د خـزان باد د ګل په ســـر ولګېد

شمـــع پروا د خپل ارمان نه کوي
ځکه پتـــــنګ ســوی وزر ولګېد

لمـــن د ګلو له اغـــــــزونه ډکه
ځکه بلبـل د زړه په ســـــر ولګېد

زه د ساحل غمو ته هلـه ځیر شوم
کله زېړی په مـــازدیګـــــر ولګېد

ســترګې یې ډکې د حیا نه شولې
چې یې منــګی په بر ګودر ولګېد

وسیــمه! دومره بې پروا یې ولې؟
ځکـــه دې زړه په لوی هنر ولګېد

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

**د ګلـــــونـــــو رژېـــــــدل کتلی نه شـــــم**
**بې د میــــنې خندېــدل کتــلی نـــــه شم**

**چې یې عمـــــــر څنګه تېر شـــو اسوېلو کې**
**نور د شمـــــعې ژړېـــدل کتــــــلی نه شم**

**د خزان ســـاړه بادونه راوچـــت شــــــول**
**د بلبــــــلو زورېـــــدل کتــــلی نــــه شم**

**هر څـــه ګران شي په قیمت کې باکي نه شته**
**خـــــو د میـــــنې ګرانېــــدل کتـــلی نه شم**

**چې څپې څپې یې اوښـــــکې په باړخو شوې**
**نـــور د اوښـــکو رهېــــدل کتلی نــــه شم**

**څوک خمار شول څوک مستان شول میخانه کې**
**زه د مــــــــړو ســـترګو لیدل کتـــلی نه شم**

**غټې ســـــترګې یې چې تـــورې په رانجو کړې**
**بیا د سپـــین مخ ځلېـــدل کتـــلی نه شـــــــم**

**څوک کامران شــول په بېړۍ د پاکې میـــــنې**
**زه وســــــیم نور ډوبېـــدل کتـــــــلی نه شم**

۱۵/۱۱/۱۹۹۷ع - پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

لکه بحـــر شـــانته زړه د گـــوهر ډک کړه
لکه ونه خپــــــل وجـــود د ثمـــر ډک کړه

ميخانې مې په نصيب شوې ستا په عشق کې
راته ميـــــنې کې نيمـــگړی ساغر ډک کړه

په هېـــــڅ لار کې ستا ديـــدن کولی نه شم
د رقيب ته نور ژوندون د خـــــــطر ډک کړه

په گودر چې در رسېـــــــږم تلـــوسې کړې
اې! ظالمې لږ منـــگی په هنـــــر ډگ کړه

د غوټۍ شانـــــتې را خـــواته لږ مسکۍ شه
لکه پرخه ســــور لاله په ســـــحر ډک کړه

د سپوږمۍ مخ ته کتی نه شـــــم وصال کې
يا مې ښکل کړه يا زړگی د خنـــجر ډک کړه

يا تورتـــم کې مې ډېـــوې په شانته بل کړه
يا وجود مې خپل ښايسـت په زېور ډک کړه

ما وســـــــــيم په بيابان کې ســـفر کړی
لږ د سرو شـــونډو شربت نه ځيگر ډک کړه

۱۹۹۷/۱۱/۲۰ع – پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

سر مې اېښی په زنګـــــون و عجیبه شانته دنیا وه
زړه زما په شـــــباخون و عجیبه شانته دنـــــیا وه

دا سرې سترګې د لیلا مې په نظر شـوې په ژړا کې
زنده ګي مې د مجنـــون و عجیبه شانــــته دنیا وه

ټوله شپه مې چې سحر شوه د یو ګل د بوټې لاندې
د بلبلو جــــــوړ افســون و عجیبه شـــانته دنیا وه

زما روح تازه تازه شـــــو د ګلونو خوشـــبویي کې
د شبنم په کې سمـــــون و عجیــــبه شانته دنیا وه

د هر ګل خندا خنـــــدا وه د بــــــورا په کې نڅا وه
سور لاله چې ځیګرخون و عجیـــــبه شانته دنیا وه

ساقي راکـــړو جام د میو د دیـــــدن تمه مې وکړه
د غمــــاز په کې لمـــــسون و عجیبه شانته دنیا وه

دا د عشق په لوی سفــــر کې د خـــطر نه ډکه لاره
وســــــیم ویل چې زما یون و عجیبه شانته دنیا وه

۱۹۹۷/۱۲/۱ع
پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

یو د هجــر تورو شپو نه بل جفـــــا نه زه پردېس شوم
نور بې جـرمو الزامـــــونو د سزا نه زه پردېـــس شوم

ما زړگی خپــل بایلولی و د تـــورو ســـترگو جنگ کې
چې اوربل یې په مخ جوړ کړو د حیا نه زه پردېس شوم

چې مې غم غلط کولو مـــخ مې واوښـــت میـــخانې ته
مجبوري مې کمزوری وه له بل چا نه زه پردېـــس شوم

ها خوا غم تـــورې تیارې وې زه د عشـــق په تمـــه تمه
د شفق زېـــرې خـــوږ نه و د ســـبا نه زه پردېـــس شوم

د خـــزان بـــاد لگېدلـــو د گلشـــــن په ســـرو گلونـــو
د بلبلو د گـــردونه او غـــــوغا نه زه پردېـــس شــــوم

د ظالمې زمـــــانې نه چې پتـــــــنگ وسوځېـــدلو
نور د شمعې ترمو اوښـــــکو او ژړا نه زه پردېس شوم

لاس یې راکړلو د میـــــنې په کې اېښې وو شـــــرطونه
د بې ځایه تمـــــنا دې تمنا نه زه پردېــــس شــــوم

زه د مینې جل وهلی وم بې خود حـــالت کې پروت وم
د غـــــرض اوبو کـــولو مسیـــــحا نه زه پردېـــس شوم

په سلام ســـلام کـــولو په ســــــلام کې به مقصـــد و
وسیـــم وایي! د غـــرضو مرحبا نه زه پردېـــس شــــوم

۱۹۹۷/۱۲/۶ع - پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوست

يار هغه دی چې په کار دې شي په غم کې
داسې نه چې سر او کار يې وي په چم کې

ځان قربان کـــړي يو تر بله په دوستي کې
نه بېلېږي بيا هـــر ځـــومره په ســـتم کې

که ليلی مجنـــــون عــــــربو کې تېر شوي
بل مثـــال يې پيـــدا کېږي په عجـــم کې

چې يې زړه په يار خوږېږي په بـــد حال کې
بې د خولې نه به ګـــويا شي سترګو نم کې

چې يې وينــــــي نه تېـــرېږي يار لپـــاره
داســـې دوست په ځنګه هېر شي په عالم کې

ځوک صفت کا ځوک غيـبت کا په مخلوق کې
ناکامـــــي په نصيـــب نه وي په تـــورتم کې

زمونږه ميـــــنه له يـــو بل نه قـــربانېـــږي
زه خوشحال يم چې ښه خوی شته په صنم کې

وسيـــم دومـــــره به صفـــت کړي د يـــارانو
چـــې يې نه شـــته ګنجايش نور په قلـــم کې

۱۹۹۷/۱۲/۱۵ع – لينډی، ډيډنګ هسپټال، پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ملغلره

صحرا چې سوځېــــدلې د اوبـــــونه تــــږې تږې
شنه بوټي دې وچ شـــــوي د سپرلـــونه تږې تږې

غمونو او سوچونو کې مې شپې شوې په اغزو کې
سرې سترګې مې شـوې وچې شوګیرونه تږې تږې

ساقي راکړه بلــــنه جام يې راکـــړو د شــــــرابو
تسل مې پــــرې ونه شـــو د نشونه تـــږې تږې

پتنګ خو ځــــان قربان کړلو د عشق په تمه تمه
سره شمــعه پـه ژړا کې د سلګـــــونه تږې تږې

چې پرخـــه ملغلره شـــوه کاســـــه کې د ګلونو
وزر د بـــــورا لونــــد شو ولولـــو نه تږې تږې

کیسه د پاکې میــــنې ته د ژوند ښکلې نغمه يې
وسیمه! ها کیــــسه شوه افسانــــونه تږې تږې

۱۹۹۷/۱/۱۵ع
سواتي ګیټ، پېښور صدر

(c) ketabton.com: The Digital Library



## حقیقت

**د شپې ترورمې وه زړه په ســـترګو مې لیلا ولیده**
**د سترګو جنــګ کې نا ببـــره مې حیـــا ولیــــده**

**ما په خیالو کې خـــوب لیده کړه خو دا و حقیقت**
**په جمع د ســـتورو کې ما ســـــتوری د سبا ولیده**

**شمعې ښایسته یې ستا ښایست باندې به څه وکړم زه**
**ستا د پتنګ پـــه سوځېـــدو مې ســـتا جفا ولیـــده**

**بخت چې ظالــم شي بیا پروا د مـوږ غریب نه کوي**
**څکه مــــې لومـــه په منګـــولو د عُنقا ولیـــــده**

**مینه تنګی وي، لېـــونی وي نور بیا شرم نه کـــړي**
**زیارتـــه! ســـتا په کنـــارو کې مې ګناه ولیــــده**

**وسیـــــــــمه! تا په زاهدانو کې خپل ځان شمېرلو**
**د ها شــراب ډکه پیاله مې لاس کې ســـــتا ولیده**

۱۹۹۸/۲/٦ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

تخیـــــل مې پـــــروازونه کــــړي هــــوا ته
خالي جســـم پاتــــــې کېـــږمه دنیـــا ته

زړه مې خوځي، رګ مې خـوځي، ساه چلېږي
بې نفســـه یــم، کالبــــوت یمــه اشــــنا ته

بانه رپي، سترګې ګـوري، حس ژونــدی دی
د زړه حـــال ویلــی نه شمـــــه هېــــچا ته

غوږ مې اوري، ژبه چورلي، لاس مې کار کړي
احساس نه شته خــوله مې چـــوپه ده قضا ته

مرګ او ژوبلـــه بــــه کـــــوي مقصــد لپاره
دواړه لاســــــه پاس اوچــــت کړه ته ثــــنا ته

که مدهوش یې که مستي کړې اې وسیــــمه!
یم حیــــران چې دا به څنګه کـــړې عقبا ته

۱۹۹۸/۲/۱۰ع
سواتي ګیټ، امېد اباد، پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پېغور

چې مینه حاصل نه شـي هسې ژوند ورته پېغور شي
گلونو کې چې گرځـــي هر یو گل ورته سور اور شي

غوټۍ چې کله گـــــل شي بیا پناه شي په اغزو کې
بلبل ترې شي بــــې وسه بیا یې سر په شرا شور شي

شبـــــنم چـــــې کله پرېوزي کاســـــــه کې د گلونو
خوشبویې د عطــرونو بیا په هــــــره لورې خور شي

په شپه چې رابنـــکاره شي په گلشــــــن کې د گلونو
د شمــــعه پلوشې یې بیا خــــــورې په هـره لور شي

رقیـــــب ته مې ویـــنا ده چې جفا ســــــره یو نه شي
وسیم په ښکاره وایي! چې سور اور به یې په کور شي

۱۵/۲/۱۹۹۸ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غوټۍ

**زه چې کله ستا په تورو زلفـو ګیـــر شوم**
**د تهمت د انبارونو لانـــدې ځیـــر شوم**

**د امید غــوټۍ مې ځکـــه ګلان نه شول**
**چې نســیم ګذر کولـــو زه یې هېر شوم**

**شاه جهان خو تاج محـــل جوړ کړ په مینه**
**ما چې جوړ کړ ګل محل په کې اندیر شوم**

**د صراط په پـــل به هېــڅ مشکلات نه وي**
**دا چې زه د پاکې میـــنې په لار تېر شوم**

**سر ببر خېرې ګرېـــوان در تـــه ولاړ یم**
**ځکه زه د لېونـــو په کتـــار شمېـــر شوم**

**ما وسیم چې سره شراب د شـونډو نوش کړ**
**د رقیب په مـــخ کې زه په شان د شېر شوم**

۱۹۹۸/۲/۲۱ع
سواتي ګېټ، پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سترګې

سترګې دې تـــورې په رنجو کړه ګلې
بانه دې غشــــې په زړګو کړه ګــلې

بدن ټپــــي روح اواره شــــو زمـــا
زما ماشـــوم زړه په سلګـو کــړه ګلې

ســتا د فـــراق غمونه خوښ دي زما
اوښــکې رواني په بــاڼخو کــړه ګلې

دا ټـول غمـــونه مېلمانه شــــول راته
اوس مې ته خوښ په مړو کتو کړه ګلې

لکه د تن سیــــوری غماز مې ګــرځي
لږ یې جـدا په چال هیــلو کــــړه ګلې

خوله مې ترخـــه ده د هجران تبــې نه
لــــږه خــوږه دې په خلګــو کړه ګلې

په میــــخانه کې مې نصیـــب ونه شــو
لـږ مې نشــې ته په نشـــو کــړه ګلې

د زړه چمـــــن بلبــل تر کــــومه ژاړي
ورتــه ته زېـــری د ګلــو کــړه ګلــې

په دوزخـــونو کې خو ښېـــې ږدمه زه
لږ مې راحـــت په جنتــــــو کړه ګلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ټـــوله دنیا خپــــه خپــــه وینـــم زه**
**لږ مې خوشحالو کړه ګلې**

**وسیـــم ټول عمر په خزان کې تېـــر کړ**
**لکه نسیـــــم دې په سپـــــرلو کړه ګلې**

۱۹۹۸/۲/۵ع
پېښور، پښتونخوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غلامي

چې په هنـر دې زړه تــالا کړ رانه
بیا دې نور څه ته ځان رسوا کړ رانه

چې په زړګي کې دې ساتلی نه شو
تا غمـــازان په واویــــلا کړ رانه

ستا خو دا میـــنه غــــلامي ته ورته
د پادشاهي خـــوی دې ګدا کړ رانه

جسم که ستا په انتظار کې پروت دی
خو تخیـــل دې په صحـــرا کړ رانه

شمعې ته حـال مې د زړګي ووایـــه
عاشـــق پتـــنګ یې په ژړا کړ رانه

چې مـــې د زړه په وینو ګل اوبه کړ
د وخـــت توپان دې په هـوا کړ رانه

لکه ښـکاري چې د باز سترګې تړي
دا بیــــنا زړه یې نابینا کــــړ رانه

ما وســـیم څومره منـتونه وکــړل
بیا دې خپـــه زړګی رضـــا کړ رانه

۱۹۹۸/۵/۲۰ع – پښتونخوا، پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غیرت

غریبي که څومره زور شي خپل غیـــرت راسره مل دی
شپه او ورځ څومره تیاره شي خپل همـت زما مشعل دی

که مې ســـر چورلي د زوره په وجـود کې شوم بې وسه
خپل تقــدیر نه ګیله نه شـــته لیکل شـــوی له ازل دی

یا مې هغــه خان خاني وه یا مې دغــــــه غریبي شوه
نه مې کـــړې څه ګنـــاه وه نه مې ایښی غلــط پل دی

په لښتي کې اوبـــه تللي بیا په هغه کې ور درومـــي
دا بیشک چـــــې رب زما راته د نیـــکو لارو مـــل دی

اشنایي هم په پیسو شـــوه او دوستي هم په دوکو شــوه
نو په جېب کې دې څه نه وي بیا به وایي چې دا غل دی

دسیـــــسې به کړي در جـــوړې ته د ځانه خبـــر نه یې
زمانې ته چې زه ګـــورم بیا په تـــن راتـــه اوربل دی

وسیم شوی په پښتو کې او لـــوی شـــوی په پښتو کې
دا مظلوم ته دی سر ټیټی د ظالــم د ســـــر اجل دی

۱۹۹۸/۲/۳۰ع
پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شفق

ای! ساقي ماته د ښکلو میــــو جام را
په نېکانو کې یــو نوم د نېــکو نام را

په غمـــــونو کې زه ډېــر یم کړېدلی
په ډالی کې دې خـــوښیو ته الهام را

په تیارو کې به تر څو عمـــر تېرېږي
د شفـق په نظـارو کـې، ته انعــام را

هر خوا ګرځم ګمــــراهانو سره سر یم
په لارښودو کې یو ښه لارښود امام را

ګناهکارو کې که ستا په در شـامل یم
نور ته بس کړه سزاګانو ته انجـــام را

زه وسیم له تا نور هېـــڅ تمنا نه کړم
په ښکلاو کې ته ښکلی مـې ګلفام را

۱۹۹۸/۴/۴ع
پېښور، پښتونخوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



# موسکا

**دا ستا خیالي موسکا نه زړه خیـــالونه گلورین شـــول**
**دا ستا په هر قدم کې زړه تیارې مې نور وریـن شـول**

**گومان مې پرې کولو چې زه ستا کیسو بې خوده کړم**
**دا ستا شیرین کلام ته خـــو حیـــرانه سامعیــــن شول**

**د هجر کاروانیانو چې کتـار وو خپـــل جوړ کــــړی**
**دا ستا ناز او ادا ته راســـتانه ټـــول زایـــرین شول**

**تا چې پلـــو واچـــوه روانـــه په مکیـــــز شــــولې**
**هر چا گوتې چچلې هم حیـــران دې شایقیــــن شول**

**ستا په احتـــــرام کې بوراگـــان ټول په نڅا شولو**
**چوپـــړ ته دې ولاړ وو د هـــوا نه خادمیـــن شول**

**د شمعې کتـــارو کې مې محــــفل تیـــاره تیاره و**
**دا ستا په رسېدو مې محفـــــلونه ټـــول زرین شول**

**وسیـم ویل خوشال وم خوشالي کې ناخـــوشال وم**
**خو ستا د کل بـــدن نه اندامونه عنـــبرین شــــول**

۱۹۹۸/۴/۲٦ع
پېښور، پښتونخوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ستا د مړو سترگو کتو ته احساسات مې تخنېدل
ستا د زلفــو سرو گلو ته بـــوراگان به گـــډېدل

ستا په سر داسې رڼا وه لکه شمـــعه چې رڼا وي
پتنگان ورته په ښېو کې لکه شمــــعه غورځېدل

له شرابو پیالې ډکې مدهوشـــي وه په محفل کې
یاران دومره وو خوشـــاله په جامـــو نه ځایېدل

دا ستا د وصلت شپه کې شپه د قدر وه بې وخته
غمازانو واویـــلا وه هــــم په ویـــــنو لمبېدل

لاله زړه نسیم ته ورکړه چې یوســـه یار په لورې
د نسیم په رسېـدو کې ســـره گلان ومسکېدل

د حسیـــنو قافله وه خپل منـــزل ته وه روانـــه
گلې ستا خیالي کتو کـــې درته ټول وتمېـــدل

د بخت او د تقدیر په څپو ډوب وســـــیم راووت
ها! بیگا یې په اسمان کې د بخت ستوري ځلېدل

۱۵/۵/۱۹۹۸ع
پېښور، پښتونخوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ساقي

دوه زړونه په کې محوه وو سکون چوپه چوپتیا وه
سرې شمـــــعې بلېـــدلې پتنګانو پــــرې نڅا وه

ساقي په لاس کې جام و ســــت يې وکړو د شرابو
حاجت مې جــــــام ته نه و د نشـــو ډکه فضا وه

سرې سترګې مې په ســترګو کې اشنا ته واچولې
په زړه کې محبت و هم په ســــــترګو کې حیا وه

که تیارې خـــورې ورې د زمـــان په رقیـــبانو
محفل مې د زړه جـــوړ و هـــــره خوا رڼا رڼا وه

د سترګو په پیالو کې مې بې خوده ځان نشه کړو
زاهده! خبر دار شـــه چې وه نه وایې ګنـــاه وه

عجیبه هنګامه وه چې خـــوره د زړه په کور کې
خیالو کې وسیـم ورک و هـــم د مینې مشغولا وه

۱۹۹۸/٦/۲۱ع
پښتونخوا، پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هسكه غاړه

پـه شپـه مې وليدله چې نـــري وه هســــكه غاړه
سلـــګو كې راتـــه ويلـــې په ژړا راپـــسې ژاړه

ملغلرې مې د ســــــترګو پـــه بها كې واچـــولې
د سترګو په كتـــو كې بې بها شـــوه ترېـــنه لاړه

بازار د ښــــــو دانـــو نه ملغلرې زما سر شـــوې
دانه قيمت بـــها وي چې دانـــه وي د ويـــجاړه

تكل د ښې دانـــې يـــم ها چـــې كله په لاس راشي
نو ځكه په صحـــرا شــــوم په مېرو كې هـم په شاړه

جنـــون تاوده بادونه هـــم په ســـر راته لګيـــږي
كه ژوند په تورو غرو شي مورِ به خوښ يو سره دواړه

وسيــــمه! لېونی يې ســـرګردان شـــولې په عمر
هر كار ته چې لاس اچوې له خدايه(ج) مـــــدد غواړه

۱۹۹۸/۶/۲۵ع
پېښور ، پښتونخوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ښيښه

خوږې خبــــرې مې په زړه دي خـــو کولی نه شم
ځکه! د مينې خوږ اشــــنا مې هېــــرولی نه شم

زه په دې وېره چې خــــوبانه چېرته هېره نه شي
نور د همـــزولو افــــسانو ته کېناستلی نه شـــم

چې د لويديځ مازديګـــري وريځو ته ځير شم کله
دا سرې لمبې د ســــره هجران شېبې کتلی نه شم

مين خوشحال مـــازديګري ته وي چې شپه راولي
خو زه هېڅ کلـــــه مازديګــر کلــه ستايلی نه شم

ډېر د عروج په وخـــت نازېږي بې خبـــــر د زوال
د سهار لمر نور په ماښـــــام کې ازمــــولی نه شم

که د ژوندون په څـو ګړی وي ځان خوشحال وساتم
وخــــت په منـــــــګولو د فنا نه رانېـــــولی نه شم

نور چې د ميـــــنې ظالمانو ته په ښـــپو کې رغړي
وايم په ډاګـــــه ابلــه ښـــــپو کې رغښتلی نه شم

د چا په لاس کې کنډولی څوک په ښيښه کې څکي
پيالې چې ستا د سترګو نه وي زه يـې څښلی نه شم

ما وسيـــم تا ته په ړومبي وصـــــال قسم ياد کړی
په پاتې ژونـــد کې قســـــــــمونه يادولی نه شم

۱۹۹۸/۹/۴ع
پښتونخوا، پېښور ښار

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

په کتابـــو د ملائيکو مې تقـــدير بـــدل شو
ستا د ښايسته سترګو جمال د زړه تدبير بدل شو

چې وچولې په باړخـــو راته د ســترګو اوښکې
هغه مې يار، هغه غمخوار، هغه زهيـــر بدل شو

چې و لاړښـود د پاکې ميـنې او سپېڅلې دنيا
هغه رهبر، هغه ملا، هغه اميـــر بـــدل شــــو

چې راته جوړه وه د زړه د سر چيـــــنو نه لاره
هغه چيـــنه، هغه اوبـــه، هغه بهير بـــدل شو

چې ايښې تله د انصـــاف وه په مهراب د سترګو
هغه وجدان، هغه قضـــا، هغه ضميــــر بدل شو

کومه چې جوړه وه جونګـــړه د خيالاتو په کې
هغه محل، هغه هــــوا، هغه تصـــوير بدل شو

چې ما پرې غـــــم غلطولو او عافيــــت و راته
هغه ســـاقي، هغه مينا، هغه تســخير بدل شـو

چې ما ګڼله په دنيـــا کې بې نظيره خلکـــــو
هغه دنيـــا، هغه وفـــا، هغه نظيـــر بدل شو

محبوبـــې ما وسيــــم ګاللي و غمـــونه درته
په مجلسو د ګل خـوبانو ســتا تقدير بـــدل شو

۱۹۹۹/۱/۳۱ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

زه دومره ژور تللی وم ســـــوچونو او فکـــــرونو کې
جنت مــــــې لټولـــو مـــا په تا پســـې خیالونو کې

سرې سترګې برېښېدلې چـــې مـــا ستا مخ ته کتل کول
یو رنګ و راخور شوی چې هېـــڅ نه شته په رنګونو کې

دا ســــــره لکه انــــار وه د حیــا نه سره رنګیـــــنه وه
د سرو شونډو سرخي دې چې لا نه شـــــته په ګلونو کې

غمونه را انبـــار راتـــه په ســــر لکه د غـــر شـــولو
صرف ستا چې دیدن کېږي زه خوشال یم په عمـرونو کې

کنډول رانه راپرېـــوته چې ســـتا په یاد نشه شـــومه
ساقي نه نور نه غواړم که یې راکــــړي په سوالونـــو کې

له سترګو مې څڅېږي د فــــراق په اوښـــکو لوند شومه
ګوهر چې مې راتویې کـړې هېڅ نه شته په بحـرونو کې

رقیبه! ووېرېـــږه د صـــفا میـــــنې ازار مـــه کـــــړه
وسیــــــــم د زړه اواز به هـــم څوک اوري اسمانونو کې

۱۹۹۹/۱/۲ع
پېښتونخوا، پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د وطن مختګ

د فانـــي نړۍ په لاره ځــــان هوښیار کړه
د ژونــدون د حـــــوادثو تا بعـــــدار کړه

د ښه شان او په شوکت او انســـــانیت کې
داسې نه چې ته بلا ته ځــان ګـــوزار کړه

که د نېکو لارو مـــل يې نېـــک به ګرځې
که بد ګرځـــې نو د بـــدو انتـــظار کړه

کومه مینه نن چې کېـــږي د ځـــــو ورځو
ته ځان مینه کې منصور غونـدې په دار کړه

هر خــــوا ظلم دی تیــارې دي جهالت دی
د مظلوم تورې تیــارې ته ځان ســـهار کړه

بلبلان چې شـــور فـــریاد کړي د اغـــزونه
ته د وینـو نه هېـــــواد ګلو ګلـــــزار کړه

د پښتــــو په لوی وطن افغانســـــتان کې
دښمن مه پرېږده ټول غرونه پـرې انبار کړه

چې په بد نیتونو ګـــــورې خـوږ وطن ته
هره لویشت ورتــــه د خـــاورې نه انګار کړه

وسیــــم وايي! د هېـــواد په ننګ شهید شه
د پښتـــــــو دښمنان واړه تـــار په تار کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

دومره چې ظلـــــومونه ته په ما کوې
دومـــره ناپـــوهي ولې اشـــنا کوې

کله مې په ځیـــر درتـــــه کتلي دي
ټېټې راته مـــړې ســـترګې شهلا کوې

غاړه کې کچکول په لاس تسبېح ګورې
ته څنګه په مـــا شک د ګـــــــدا کوې

تا ته مې قســـم په عشـــق خوړلی دی
ته ولـــــې خبـــره نا صـــــــفا کـــوې

وینه به د زړه درتـــه قـــــــربان کړمه
ولې بـــې ارزښـــــــته تمـــــــنا کوې

سپینې به رنګینې شـــــي تهمت په رنګ
هســـــې د رقیـــــــب نه واویـــلا کوې

پټې چېرته پاتې دي کیــــــسې د عشق
ته څنګه کیـــــسې راته په غلا کـــــوې

خیر دی که لوګی یم ستا د عشـــق په اور
خوښ یم چې په ډکه خوله خنـــــدا کوې

زړه مـــې ټوکیـــــدلی د لاله په څېـــــر
کله به سفـــر په دې صحـــــــرا کـــــوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**زما سیـــــــنه په غشو اموختـــــه شوله**
**څنګه ګـــوزارونه پـــه خطا کـــــوې**

**زه وسیم رســــــوا په کلي کور شـــومه**
**هســـــې بیا خبـــرې په حیــــا کوې**

۱۹۹۹/۳/۲۰ع
پښتونخوا، پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شنې پیالې

کاشکې زلفې د لیلی مــــې لوبولې
شنې پیالې مې د شـــــرابو ټنګولې

د وصال رنګینو شپــو کې ای جانانه!
ښکلې شونـــډې مې جانانه ښکلولې

ښه رنګین موســم بهار وایي ګلشن کې
چې بې دربغـــــه مې ټالو کې زنګولې

ګلو ونې قــــد قامـت دې تل بهار وای
چې نسیــم دې په مشــــام را لګېدلې

زه دې مړ وای په شـــــرابو ستا د لاسه
چې د لاسه دې پیـــالې کــې پرېوتلې

زه بې خوده وای چې ورکه رانه لار وای
چې مې غبرګو دوه کمځــــو نه رانېولې

زه زاهد وای په مذهـــب د ستا د مینې
چې سجده مې په محـــراب کې لګولې

ستا د حسن پلوشـــــې دي زه تیارو کې
ته وای شمـــعه په تیـــــارو کې بلېدلې

دا دستور دی چې ډېوې نه پتنګ سوځي
ته ډېوه وای خیـــر که زه دې ســـــوځلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وسیـــــم وايي! د زړه سر راته سوری کړه**
**خیر که زه دې په ســــــرو وینو لمبېدلې**

۱۵/۴/۱۹۹۹ع
پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مرحوم خاطر اپریدي صاحب ددې بیت پر بنا

**(د هجران په شپه ډېوه په لاس کې راغله)**

***

**د هجران په شپــه ډېوه په لاس کې راغله**
**د گلونو ســــــره غنچه په لاس کې راغله**

**تلوسې مـــــې وې چې ورشم میخانې ته**
**د شرابو شـــــــنه پیاله په لاس کې راغله**

**لټول مـــې ســـــره لعلونه په اېـــرو کې**
**ناگهانه خـــــزانه په لاس کـــــې راغله**

**شپه او ورځ چې مې سجـــده وه لگولې**
**عبادت مې شکرانه په لاس کـــــې راغله**

**تېره شپه وه په وعده کې خــــلاف شوی**
**شوم پخلا چې جرمانه په لاس کې راغله**

**زه وسیــــــم ومه گیر شوی محبت کې**
**ښه منم چې اعـــــانه په لاس کې راغله**

۱۹۹۹/۴/۲۶ع

د پورتني بیت کې جوړه مشاعره

(c) ketabton.com: The Digital Library



## حسرت

قاصده! زر شـــــه په رغــو ځمكو بهار راوله
دښتو مېرو كې د گلــونو ســـور گلزار راوله

د ستا په لورې دواړه سـترگې د تندي پرېوتې
وصاله راشـــــه ته انجـــــام د انتـــظار راوله

دواړه پيالې د ميو ډكې دي په تخت د حسرت
هره پياله كې راته ســــرو سترگو خمار راوله

قلم دې مات شه د ازل ليكل چې ته پرې كوې
كه مېړنی يې په شپــــبو كې مې ديدار راوله

رقيــــــبه! تانه نه وېــــرېږم كه ساتــنه كوې
درځم ته ورشه ســــرې لښكرې د اغيار راوله

بدن زما دی اموخـــــته نېغو باڼـو په غـــــشو
ستا په چړو به څـــــه ونه شي ذوالفقار راوله

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سفر

ملګرو! نن کـــــوڅه کې دې اغیار څله پرېږدې
توتي په پنجـــره کې ګـــرفتار څله پـــرېږدې

تسبېح ګرځـوي لاس کې هم په غاړه یې کچکول
په سپین کمیس کې پټ دا ګناهکار څله پرېږدې

انګورو که اوبــه دي بیا یې څکل څـــله ګناه ده
جنت مېوه که نــه ده په دې ښـــار څله پرېږدې

ترخې اوبه مې څکلي په ګنـــاه کې یم غرق شوی
توبه لاره یـــــوه ده تــــوبه ګار څلــه پرېږدې

ډېـــر مې دي ژړلي صـــداقت پســـې ژړېـــــږم
په مخ کې دې سرې اوښکې سور کتار څله پرېږدې

سفر د لـویې لار مې په بېـــدیا کې راپیل کـــړی
وسیـــم په لویه لار کې خـــوارو زار څله پرېږدې

۱۹۹۹/۴/۲٦ع
پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ارمان

**اشنا به مـــــې راځـــي ورته په لار ګلونه ږدم**
**سينې د حــــرم باغ نه د ماليــــار ګلونه ږدم**

**ارمان به مې پوره شي که په ښپو شم پانې پانې**
**ګېډۍ ګېــــډۍ غمــــونه اعتــــبار ګلونه ږدم**

**هجران هـره ګــړۍ راته کلــونه په سر تېر شي**
**د زړه د ســـــر چينې نه د ګلــزار ګلونه ږدم**

**ګلونه پيــــدا شـــوي په ښايســـت او په جمال**
**ړومبي ځل په ډالۍ کې د رخســار ګلونه ږدم**

**دا هيلي ځوانيمرګې ډېرې هيلي شـــولې بورې**
**وسيــــمه! ځوانيمرګو په مــــزار ګلـونه ږدم**

پېښور، پښتونخوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رحمان بابا د کالیزې په ویاړ!

## څلوریزه

**د حمید په یاد مې زړه قلـــــم قلم دی**
**لکه څنګه چې جـــدا رانه صنـــــم دی**

**چې مرغۍ د باز د وېـــرې نه اوتـــره!**
**داسې زړه مې هم ستومانه په ستم دی**

***

## څلوریزه

**غوږ کې راته ټپ شو د قضا ولې؟**
**چیغې مې ته نه اورې اشنا ولې؟**

**زه شومه وسیــم لېونی ستا د در**
**خلک که خطا شــو ته خطا ولې؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اوښکې

اوښکې مې تويې په رخسـار شولې نن
زړګيـــه! ولې نا قـــرار شـــولې نن

د وطن ميـــنه چـــې زه تـــا کې وينم
زه وفـــا دار تا چـې وفا کې ويـــنم

خير که ســـوری سوری ټټـــــر شو زما
په غم اخــــــته کـــور او ټبـــر شو زما

زه به ځواب د خپـــل وطــــــن ورکوم
په وينو ســـــور به خپـــل کفن ورکوم

د وينو څاڅکــــو به لاله ټوکيـــــږي
د مسيحا به شــــــنه پياله ټـــــوکيږي

سوي چمـــــن نه به جنـــــت جوړوم
ښه جامعـــه د شفقـــت جــــــــوړوم

د غليـــــم کــــور به زه تالا والا کـــړم
په خپل قلـــم به يې رســـوا رســـوا کړم

خدای نه خوشحال يم چې پښتون پيدا يم
هم مسلمان هـــــم چې مفتـــون پيدا يم

د هنـــدوکش په جګــو غــــرو مې قسم
هم په دې شنـــو شنو ســـر درو مې قسم

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې زه زړګی خپـــل پرخـــونابه ســـاتم
دښتې مېـــرې به زه شـــادابـــــه ساتم

وطنه! تا به څنـــــګه هېر کړو مـــــونږه
په پاکه میـــــنه به سر تېـــــر کړو مونږه

تا ابـــــدالي په شـــان بچـــیان روزلي
هـــــم دې هُما هـــــم دې بـــازان روزلي

وطنه ته جنـــــــــت نشان یې زمـــــوږ
ته د پېـــــړیو قهـــــرمان یې زمـــــوږ

ستا عظمــــــت ته به ســـــلام کـــــومه
زه وسیـــــــم ســـــتا به احتـــــرام کومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## محبت

دنیا ټوله جادوګـــره هـــر زمان جـــادوګري ده
مونـږه ولې نه پوهېـــږو زما ستا بې خبـــــري ده

موږ چې دواړو لاسه ورکړو دا دې نوي ژوند اغاز وو
خواږه زېرى د نسـيم و هم ډالۍ مو د سپـــرلي ده

رقيبانـــو لارې ســـاتۍ غيـــرتي وايـــــم په جاره
چې سپوږمۍ کله په بام شوه زمـا هلتــه حاضري ده

د منصور نه زه کم نه يم د مجنـــون په پــل مې لاره
کومه لار چې ما خپـــل کړې هغه لاره شعـــوري ده

د زاهد او شېـــخ د لاســـــه ميخانې تالا والا شــــوې
يوه پاتې ميخانه شـــــوه دا زمـا د روح ســـــاقي ده

وينې جوش وهي رګـــــو کې د مغزو حالات بدل شو
دا جنون که لېونتوب شـــو که د ستا سترګو مستي ده

محبت لــــويه دنيـــــا ده خو د عشـــق لاره جدا ده
عاشقي وي څلـــور ورځې، محبـــــت زما هستي ده

پيالې مه اخلـــه په لاس کې را روان تسبېح په غـــاړه
د شېـــخانو بازار ګـــرم زما ســـــتا بـــــې قــراري ده

څه چې لاړ شو کومې غاړې ته عافيت کوډې کړو جوړه
مونږه نه پرېږدي څـــوک دلته څه بې شـانه ظالمي ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بنګړي ســــتا، رباب زما شــو ورنه جــوړې به نغمې کړو**
**شنو پیالو ته حاجت نه شــته ها فضا ټــــوله ساقي ده**

**ما وسیــــم سپوږمۍ ته لاس کړ چې امېل یې راوړم تاته**
**سپوږمۍ کټ کټ په خندا شوه چې مې لاندې تربګني ده**

کوټ جلال اباد، افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



## میو جام

زما د مستو میو جــام کې د نشــــې قطره شه
زما غمګین شان ته ماښـام کې د ډیوې لمبه شه

ستا د جفا تــورو تیارو تــه مې زړګی ډوبېږي
لکه د شمعې په تیارو کې مې خـــوره وره شه

سترې ستومانه یم د زړه سکون مې نه شته ګلې
د امېدونو سلســـلو کې د حســـــرت شپېه شه

ما چې د ستا د ســــــترګو غشو هر کلی ویلو
ته هم زما د زړه په ســـــر راته ویـــده ویده شه

زما د اوښکو تسلســـل ته چې باران شـــرمېږي
لکه ښارو په پســــرلي کې ته لمده لمــده شه

مطرب زما د ســــوځه وتــړه ته ســـــاز د وفا
راته رنګینه شه، محفـــــل شه، هم نغمه نغمه شه

وسیم چې ستا د حســن بڼ ته هر سحر دی حاضر
ته د نســــــــیم ســـره را والوزه خوږه وږمه شه

پېښور، پښتونخوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خبر

نن سترګه مې رپېــږي چــې خبر څه راولي
زړګی مې هم درزېږي چې خبــر څه راولي

یادونه رایادېـــږي وصلتـــــونه پخــواني
اختر خـــو را روان دی چې اختـــر څه راولي

خړوبې مې د زړه په وینـــو کړي که پوهېږې
مالــــوم به شـي چې ونه په ثمــر څه راولي

بیګاه د تورو زلفـــو په کمځیو لاندې پروت وم
جانان مې قـــدردان چې پیغمـــبر څه راولي

ګلونه زرغون شـوي دي په سیـــــمه د افغان
لیلی راتــه زولـــۍ کې او په ســر څه راولي

شراب مې و جـوړ کړی ډېر په مینه په مستۍ
ســـاقي راتــه د میـــنې په ساغــر څه راولي

تالاب مې و جـــوړ کړی د نرګســـو د عطرونو
نسیــــم راته د ژوند په خوږ سحــر څه راولي

د کلي مســـتې پیغلې ها ګودر ته ټولې شوي
وسیـــــم ته به خوبانه په ګـــودر څه راولي

۱۳۷۸ د اسد۲مه – کوټ ننګرهار

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تصور

تصـــــور ســـره تصـــویر ستا جانانه جـــوړوم
رنګـــونه په رنګـــونو کـــې بې شـــانه جـــوړوم

سرې شونډې سرو لمبو په څېرې ګوتې راته سېزي
چې تـــــورې تـــورې زلفـــې پرېشانه جوړوم

درنښـــت نه وېرېـــــږم بانـــــه کله درنېـــږي
هر څـــه چـې جـــــوړوم د دل و جـــانه جوړوم

ساقي پیاله دې ماتې شـــه چې دومره پرې نازېږې
خمار د تـــــورو ستـــــرګو میـــستانه جوړوم

ګلونه مې خوښېـــــــږي ته هم ګلـــو د نرګس یې
شبـــنم چې جـــــوړوم پرې د چشـــمانه جوړوم

لیلی مې په ګلـــــونو کـــې ولاړه هســـکه غـــاړه
امېــــــل چې جـــــوړومه د ریحـــانه جوړوم

وسیـــــمه! مینه وکــــړه د اصیـــلو خلکـــو مینه
پېغـــــور که جـــــوړومه د خپـــل ځانه جوړوم

جلال اباد، ننګرهار

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

زه ښایسته ګلونـو کې بې درېغه مشغولېږم
ستا د لاس د شنو پیالو نه زه بې شانه پرې مستېږم

ستا ښایست ته نازنینې ډېــوې ګانې شرمنده شوې
ستا د مخ رڼا رڼا ته د پتـــنګ په شان ســـوځېږم

طبیبانو لاس مې نیـــسئ اخ بې شانه زړه مې رپي
د نسیم خوږو نغمـــو ته لګـــه پاڼه زه رپېـــږم

د منصور د لارې مل یم د مجنـــون په شان شیدا یم
نه د اور، نه د اوبــو نه، هــم له داره نه وېـــرېږم

ساقي ستا شوې سترګې تنـګې د خیام کوځه اباده!
انتظار شپې شوې ختـــمې زه به هلتـــه ورسېږم

ای جانانه! که رقیب ستا مېـــړنی دی پروا نه شته
زه وسیم به په وعدو کې در په در بانـــدې ودرېږم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د حسن بازار

د حســـــن په بازار کـــې د حسیــــــنو نه حسینه وه
د ګلو په رنګونـــو کـــې ګلـــــونو نه رنګیـــــــنه وه

ټپوس مې تـرېنه وکړ چې بې سر محل کې څه کوې
ازل نه شکایـــــــت و او په ســـترګو کې غمګیـــنه وه

ګرداب د حــــــوادثو کې راګیـــــره د خـــزل په شان
همت ته مې کتــــلو په همـــــت کې دا شــــاهینه وه

زمان نه په فریـاد و د حســـرت ډېـــوه یې مـــړه وه
وو روحاً بــــــې قـــراره خو په جســــم بلوریـــنه وه

افسوس افســوس! کې وویل د خپل لاسه داسې شومه
کیسو ته ورته غـــوړ شوم د شیـــــــرینې نه شیرینه وه
***

## وویل

یـــــــوه ورځ د پســـــرلي وه پـه محــــــدا وتلې ومه
له همزولو ســــره ګــــډه په خنـــــدا وتلــــــې ومه

فطـــــرت د طبیــــعت ته مې نظـــــر وشــــولو واوره!
زړګی مې په ګــــوګل کې په وار وار شــــو ناقـــــراره

اه! مینه مې پیـــــدا شـــوه په ازاد یو ګلســـــتان کې
د ګــــــل او د بــورا وه مشغـــــــولا چمنســــــتان کې

فکر کې د ځان شوم چې ای کاش یو شفقـــــت د لاس
تاو شي او راتاو شي راتــــــه ونبسي د ســـــر د پـــاس

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما خو ويل چې مينه عجيبه شان ته احســـــاس به وي
ځان به په کې ورک کړم عجيبه شان ته اخـلاص به وي

ځکه اوربــــدلې مې کيــــسه وه د شيـــرين فـــرهاد
کړيکې يې د زړونـــو اوربـــدلي وو هر چـــا په يـــاد

زړه مې په سفـــر شو کـــومه لار کـــې چـــې ليلا تللې
سترګې مې د ميـــنې ډکې ستـــرګې چې شهلا تللـــې

دې نه بې خبــــره چـــې هغـــه خـــو پاکه ميـــنه وه
هر څه ورته زړه کې د هيــــنداري غونـــدې سپينه وه

ګيره شوم په لومه کې او ښکار شـــوم د صيـــاد په لاس
پاڼې پاڼې ګل شـــومه او ورکه شــــوم د بـــاد په لاس

ځان دې با خبـــــر کړ چې دا زړه دې د ګيـــلو نه ډک
روح مې په تورتـــم کې ده، فضـــــا مې اسوېلو نه ډک

در به کړم منت خلکـــو چې چېـــرته زړه ونـــه بايلئ!
راشئ! يو بې سر ســـامان کوڅه کې مې ژونـــد وګورئ

نهٔ! چېـــــرته وفا نه شته، ونـه کــــړې محبــــت خلکو
لاس به در چاپېره کړي په چـــل چـــل کې صحبت خلکو

راشئ! د وسيـــــــم نه څو زما د حال تپـــــوس وکړئ!
ګير يم بنديــــــوانه د وحشـــيانو چال تپـــــوس وکړئ!

پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پرخه

لکه د پرخې او شبـــــنم سره ســـور ګل تازه شو
داسې مې اوښکو اسوېلو ســـره ګـــوګل تازه شو

ستا د هجران تاوده بادونو چـــې بې شانه وسوم
ستا د غمونو سلسلـــــو کې مې غـــزل تـــازه شو

هغه ساقي په لاس کې جام واړه سکروټـــو ډک و
ځکه کوم اور چې په محفل وو په محفـل تازه شو

خیر که بادونو تورې خاورې چې راوشــــــندلې
ستا د وصال باران چې وشو خړ کاکـــول تازه شو

وسیـــــمه! تا چې څه غوښتل هغه وړتیـــا وکړله
څنګه چې ګورې په شېبه کې ټول محل تازه شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

**زه شوم میخانه شوه او ســاقي د جام**
**جوړه ترانه شــوه د ســـــرور او شام**

**ما پیالې نوش کړې وې د سرو شونډو**
**چغه د رندانـــــو چې خیــام خیام**

**څه رباب مستېږي څه دا ســـتا حسن**
**سل کلامه پیش شول نه دا ســـتا کلام**

**مه کــړه طوافونه چې رقیـــب نه یې**
**سیخ به شې، کباب به شې رقیب په نام**

**نن چې راته خانـدي دا سپوږمۍ غلې**
**څنــــګه په بســـتر وکــړم ارام ارام**

**نه هغه لاله شـته چې یـې پــرخه شم**
**نه هغه شفق شـــــته چې یې شم انعام**

**ستړي شول ستـومانه قاصـــــدان زما**
**نه دې ځواب راکــړ نه ښــــکلا پیغام**

**ګرځمه مدهـــوشه دنـــیا نه غـــواړم**
**زه وسیـــم به وکـــــړم په مقام قیام**

۲۰۰۰/۱/۸ع – پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## رباعي

**چې کوم پیکر د ستا وجود وي بت خانې ماتوم**
**چې وي شراب د ستا د شونډو میخانې ماتـــوم**

**وسیـــــمه! مه اخله ملغلرې د رقیـــــب د بازار**
**زه مســـت د مینې په دولـــت یم خزانې ماتوم**

کوټ جلال اباد ، افغانستان

***

## څلوریزه

**سورګل شو پاڼې پاڼې چې د ستا ښکلې ښکلا شوه**
**غوټۍ په پرانېستو شوه چې د ستا زلفـــو هوا شوه**

**د ستورو سترګګونه درته ځای په ځای کې تم شول**
**سپوږمۍ شوله خجله چې د ســـتا د مـخ رڼا شوه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مهال

ما چې هر څه هر څه وکړل خوشحال نه شو
د زړه کور چې نړېـــدلی په حال نه شــــو

که معــــمار ته منـتونـــو په زاری شـــوم
د معمار چې کوم کمـــــال و کمال نه شو

چې د حســـــــن وه مغـــروره ای ملګرو!
د غرور چې کـــــوم زوال و زوال نه شــو

چې ملنـــګ شـــومه پـه در او دروازو کې
کوم مهال چې ما غــــــوښتلو مهال نه شو

یو بچونی مې مونـــــــدلی و په غره کې
د زړه غوښې مې که ورکـــــړې غزال نه شو

د وسیـــم زړه ترې نه داســــې و تور شوی
چې په اوښــــکو ووینځلو کنـــګال نه شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# عطرونه

ګرانې! په کړس کړس کې خندل مه کوه
هم دې په مــــړو ستـــرګو کتل مه کوه

کله چې څنـــګ ته دې بې خوده درشم
بې خوده ډېر شي نـــور څکل مـــه کوه

کله چې پـــل دې په درشـــل کې کېږدم
شنو میـــنارو ته، ته ختـــــــل مه کوه

زه د ســــپرلي په هـــوا مســت ګرځمه
نور د عطـــــرونونه شیـــندل مه کـــوه

واخـــله د ســــــتورو نه پېــــیلو امېـل
د غمـــازانو اچــــــول مـــــه کـــــوه

زه یم مستي، زه یم ســــــــرور او شباب
نورو نغـــــــمو پســــــې تکل مه کوه

زه که دنیا ګـــــــورمه ستا ستـــرګو کې
د دنـــیاګانو جــــــوړول مـــــــه کوه

راته په خوب کـــې بیګاه وویل سپوږمۍ
وسیـــــمه! اوښــکو تویـــــول مه کوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ننګ

وران دی، ګلسـتان دی اې بلبـــله د پښـــتون د باغ
نوم د رقیب لیـک دی په شــــاړ بوټـې د مجنون د باغ

خوار او زار بچــــی دی بې هنـــــره بې کــماله دی
غوړونه یې کاڼه، په لاس شـــل، ســـترګې پرکاله دی

لعل خښ په اېرو کې او مرجان پروت دی په خاورو کې
زوی د شهباز ګرځي چمړې خـوري په سیل د واورو کې

پاڅه ای زلمــیه! مســت شـه، تــوره او ایــمان واخله
شړق شه، اور لمبه شه، تندر نر شه خپـــل جانان واخله

ځار د شنـــو برېتـــونو شــم غـــلام د غـــلام زوی یې ته
پروت یې په دوسیـې کې که زر ځله شـــاه زلمی یې ته

توره دې راواخله ننـــګ پښــــتو او اســـلام پـورته کړه
خپلو مســـــتو ســــــترګو دې نامه د غـــلام پورته کړه

پاڅه ننګیالـــــیه! نن دلبــــر او جـــــانان وګــــته
نوم د پښــــتون وګــــته نامـــــوس د افـــغان وګته

ټول جهان حیـــران کړه د خپـــل ځان په تماشاه سره
ای! د احمــــد زویه، ای بچــــیه د شــــېرشاه سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

دا زه شـــومه بدل، که زمـــانه بـــدله شوه
سازونه شول بـــدل، که تـــرانه بـــدله شوه

په لپو لپو څکمه خـــوند يې نه شته دې ساقي
شراب شـــولو بدل، که میـــخانه بـــدله شوه

نه شوله غـــوټۍ په گل بـــدله گلستان کې
نسیم شـولو بـــدل، که گلـــخانه بـــدله شوه

اوښکو ته مې لاره جوړه کـــړې زړه په سر وه
بهیـر شـولو بـدل، که سلســـله بـــدله شـــوه

وعدې دې راته راکړې افسانې په زړه کې ساتم
ستا زړه شـــولو بـــدل، که افســـانه بـــدله شوه

زړه ته مې نـږدې وې فاصـــلې هم لنډې شوي
منزل شـــولو بـدل، که فاصـــله بـــدله شـــوه

وسیمه! په سـوالو کې ورته پاکه میـــنه غواړه
مینه شـــوه بـــدله، که يـــارانه بـــدله شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

غشي په نـــښه هم په خـــاوره لګي
دا ســـتا بانه د زړه په سر لګيـــــږي

سترګې چې سترګو ســـره وجنګيږي
لکه د غر ســـره چې غـــــر لګيـــږي

مست او مدهوشه يم ستا سرو شونډونه
چې په پيـــالو کې دې کـــوثر لګيږي

د باخودي احســـــاس مې ځـــکه وکړ
څنګه ساحــــــل ته سمنـــــدر لګيږي

وسيمه! ډېر ځـان ته هوښيار مه وايه
نن ســـــبا زړونه په هنــــر لګيـــږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## قمر

**طواف وکړم کعبـــې نه که د ســـتا قمر نه تاو شم**
**پیالې د میو نوش کړم که محـراب منبر نه تاو شم**

**ناصحه نصیـــحت چـــــــې دې زه اورم نه پوهېږم**
**تسبیح کړمه په غاړه که د خـــوږ دلبـــر نه تاو شم**

**خپل یار مې ډېر یادېږي خو دا لارې بنـــدي شوي**
**زه والوزم هوا ته که په پښـــو چـــــونغر نه تاو شم**

**زاهد راته غوسې کړي چــې څه حسن پرست یې ته**
**خیر زه دې ګناهکار شـم چې د ستا پیکر نه تاو شم**

**رندانـــو لار مې پرېښې هم خیــام رانه خـــفه دی**
**پیالې دې کړې راماتې خـو چې ستا نظر نه تاو شم**

**وسیم وایي! په ډاګه چې سجـــده دې په لمبو کړم**
**زردشت دې راته وایي خو چې ستا مجمر نه تاو شم**

د هجرت کور، پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کهکشان

**دا ستا د ستورو اسمانـونـــو کهکشان تـــــه سلام**
**ستا د ښایست رنګینو ښکلـــو روڼ جهان ته سلام**

**د سحر باده چې مېلمه د یـــار په کور شوې راته**
**ستا د خوشبو او د وږمـــو ګلـــــو ریحان ته سلام**

**ما ملغـــــــلرې لټـــــولې په سیــــــــنه د بحـــر**
**ستا په سینې د ملغــلرو روڼــــــد باران ته سلام**

**څوک په منزل د بر او بحـــــــر څوک پلې لاروی**
**ستا د جَرس د زخمي غـرِ سټړي کاروان ته سلام**

**ته چې وطن کې دنیـــاګۍ د ژوند ودانه غواړې**
**ستا تقدس د مفکــــورې ښکلې ارمـــان ته سلام**

**ته چې منصور غوندې په دار د محبت کې شولې**
**وسیمه! ستا د جذباتـــو کلک ایـــــــمان ته سلام**

د هجرت کور، پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

غواړم تکلیـــفونه خو جــفا د مینې نه غــــواړم
غشې مې قبـول دي خو خطا د میــنې نه غواړم

خوښ يمه تورتم کې چې اندېـر د ستا د زلفو شم
نه غواړمـــه، نه غـــواړم ســبا د میــنې نه غواړم

ګرځـمه مدهـــوشه دنیاګۍ ټوله مدهـــوشه ده
سترګې غواړم، ستا غواړم مینا د میـــنې نه غواړم

ستورو ته چې ګورمه بیا شپـې د وصـال يادې شي
ډوب دې شم تیارو کې خـــو رڼا د مینې نه غواړم

چمنې ځوانېمرګ شـــې چې په غـبږ دې اشنا لاړلو
وې ویل سحـــر شـــــو واويلا د میـــنې نه غواړم

زلفې دې وچتې پلوشـــې دې را په بـــرخه کړه
مه کوه حیـــا را نه حیـــا د میـــنې نه غـــواړم

غواړي وســـیم تا غواړي کوتره يې په بام شې ته!
نه غواړمه، نه غـــواړم هُما د میـــــــنې نه غواړم

د هجرت کور پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

محل چې درته جوړ کــــړمه د شــــنو اوبو په غاړه
سپوږمۍ چې پلوشې وې مونږه ناست یو سره دواړه

وږمو د پســـرلي چې ستا لمـــن وې رانېــــولې
رباب مې شــــړنګـــولی او تــــه وای راتــــه ولاړه

اه! خیر که د حسرت اوښــــکې په مخ مې بهېدلې
خونــــدونه یو په دوه وو کـــه تا ویــلې راته ژاړه

کیسو ته دې لېوال یــمه دیـــدن ته دې یـم تږی
اوبو سره ګلــــــونه زرغونېـــــږي هـم په شــاړه

بیګاه راته په خـوب کې یـو سپېڅلي داسې ویلې
وسیـــمه! په دعا کې دې سپېڅلي میــــنه غواړه

د هجرت کور پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د شونډو رنګ

دا شونډې زما ســـرې شـوې که د ستا د شونډو رنګ شو
خيام را باندې څښــلي که د ســـتا د ســـترګو بنګ شو

احساس مې راتخنېږي او چې روح مې هم خوشحال شو
دا حســـن ستا مست شـــوی که د ســـتا د پيالو ترنګ شو

بيګاه يې راتـــه ويلې چـــې زنګېــــږه بـــوډې ټال کې
په مخ د کائېناتو مې چــــې جـــوړ درته اورنــــګ شو

چې زلفې مې چېــړلې[۳] په خيــــالونو د وصــــال کې
ترې جوړې انګازې شوې راته جوړ ترې خوږ اهنـــګ شو

دا سره دې اننګي دي سره شـــراب په شــــنه پياله کې
دا ګوټ[۲] مې چې پياله کړه هر څه ګل، ګلې، ګلرنګ شو

غماز دېــــــوال اوچت و فاصــلې وې ايجـــاد کړې
نسيم ښکلو وړمو ســــره دېـــــوال د ببخه ړنـــګ شو

قسمت راته دنـــيا کې د وصـــال خـــوږې نغـــمې کړې
دا زه او خوږ جانان سره چې دواړه څنـــګ په څنګ شو

د حسن په مالـــت کې چا خيـــرات د حســـن ورنه کړ
وســـــيم کچکول په غاړه کړ چې ســـتا د در ملنـګ شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شرمنده و

**خزان چــې کله راغی له بهــاره شرمنـــــده و**
**بادونـــه اهـــریمن و له ګلــزاره شـــرمنده و**

**ساقي ګـدی نشیــن شــو په زیارت کې د پیرانو**
**چې دنده ور په یاد شــوه له خمـــاره شرمنده و**

**دا سترګې جادوګـــرې وې چالــونه د فریـــب و**
**زما د زړه اســـرار ته له اســراره شـــرمنـــده و**

**ښینښې ته یې په تمـې نه د ډېرې مودې پروت وم**
**میـنا د اخـــــلاص نه وه له غبـــاره شـــرمنده و**

**ابلیــــس د خیال په ټال کــې ډېر زنګلې ناقراره**
**ابلیس زما د صبـــــر نـه بــې واره شـــرمنده و**

**سرې غوښې یې خوړلې وې منښـوکه یې لا سره وه**
**یتیم د لـــوږې خپــتې او نهـــاره شـــرمنده و**

**که سل غمي په غاړه د یعــقوب د جګـــدلک وه**
**په غاړه د انګـرېزې ســـــتا له هاره شرمـــــنده و**

**وسیـــمه! تا ته ویلې وو خیـــام ته به ځو دواړه**
**له قـــوله بې وفا شـــوه له اقـــراره شرمنده و**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اختر

اختر خو د هغوی دی چې هم ټنګ دی هم ټکور
چې ښيې يې دي هم پټې او په سر نه دی سر تور

خندا يې که په خوله وي هم په غاړه يې هارونه
قدم په هغه ځمکه ږدي چې ځمکه وي سمسور

او روحاً هم خوشحاله وي په زړونو هم خوشحاله
نه غړ پرې د اغيار شته نه کوم لېرې يې پېغور

نو زه به اختر څه کړمه چې سرې بلا زبېښلی يم
چې ښيې مې دي هم لوڅې هم چې ګرځمه په اور

اختر رانه مستي غواړي سرور غواړي شباب
ددې خبر نه دی چې هم جام مې دی نسکور

اختره! وسيم پرېږده چې غمونه ور سره وي
دا څنګه چې لاله لري په زړه باندې داغ تور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سوبه

د شمـــشاد دې هسکې څـــوکې تر پامیره به رسېږي
دا چیـــــنې چې دي روانـــې تر بهیـــره به رسېږي

دا چې خړ شانـــته بچی دی ابـــدالي په کې روزلی
د دښــمن دا تـــوره غـــاړه تر زنځیـــره به رسېږي

دا وېــرنه او ســــتاینه دا زمـــونږه مشـــغوله ده
دا چې کېږي هر څه کېــــږي تر تقــدیره به رسېږي

مونږ زاده د افغـــان زاد یـــو دا وحشـــت نه شو منلی
د نجات ســـوچه لاســـونه تـــر مجبـــوره به رسېږي

دا چې خپټې غټې کړي دا د بل په مال چې پروت دي
دا نظـــام د مصطـفی دی تـــر زهیـــره به رسېـــږي

دا عظـــمت چـــې رابښـــلی دا ددغې ټکـــي زور دی
که وسیـــمه! ســـوبه غـــواړې تر تکبیـــره به رسېږي

۲۰۰۱/۲/۲۰ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بغاوت

په سر چې راته خېــــــژي بغــاوت څنګه ونه کړم
خوږ ژوند چې رانه اخلي شـــرارت څنګه ونه کړم

خوبونه تښــــتوي زما د یـــــار له تــــورو سترګو
وحشي حیوان صفــت ته اهانت څنـــــګه ونه کړم

ابادې راوېجاړې کـړي د ښه لارښـــــود په نوم کې
لستوڼي تــک تور مار ته شـــــقاقت څنګه ونـه کړم

ظاهراً په قســــــم راســـــره مِهر د صـــدق کاندي
باطن کې تور لعین دی جهـــالت څنـــګه ونه کړم

چې غشي په لېندو کې صیـــادان یې امــوخته دي
مېږي کوتــرې شــان ته رفاقــت څنـــګه ونه کړم

چا ښنتر په ملا رامات کړ چا مې ګل د بوټې واخیست
په بې ترســـه انســـانانو لجاجـت څنـــګه ونــه کړم

دېــوان دفتـــر مې لاس کــې د اغیـــارو پاڼې پاڼې
وسیمه! سپین میــــدان کې قضاوت څنـــګه ونه کړم

د جولای ۱۳مه، پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



# چنار

ما به چې سیـــــورې ته دمه کـــوله، هغه چنار ځوانــي مرګ
چې د بلبلو په کې کـــــور ودان وو، هغـــه د یار ځـواني مرګ

چې د جَرس په خـــوږ اواز به ویښ شو، هغه جَرس سوری دی
چې به سفـــر د امېـــدونو کاوه، هغـــه کتـــــار ځواني مرګ

چې به مېلې وې د پېغـــــلوټو جوړې، هغه ګـــــودر وچ شوی
چې په کې جـــوړه دنیـــاګۍ د مینـې، هغه کنار ځواني مرګ

چې د ویاړو نښـــانې جوړې شـــولې، زمـــونږ ملـــــت د برمه
چې پرې یادګار د پاک شهید جوړ شـوی، هغه مینار ځواني مرګ

کومه مســتي چې د ځـــوانۍ وه په کې، هغه لاهـــو لاهـــو شو
کومه نشــه چې د ځوانۍ وه په کې، هغـــه خمـــار ځواني مرګ

چـــې یې بنســـټ د ازادي کېښـــوده، هغـــه بابا مـــو لاړه
چې راته خښته یې په خښته کېښـــوه، هغه معـــمار ځواني مرګ

چې تور لونګ په سپین ټټر زنګېـــده، هغه ښایســـت څه شولو
چې به نسیـــم ورته ډالۍ کــــوله، هغـــه سهـــار ځواني مرګ

چې کومه قام وو د منصور په لاس کې، هغه رون قـام مات شوی
ښکلی تصـویر یې د وطـــن جوړوه، هغه شاهــکار ځواني مرګ

چې به درخـــو ورته پایزېب شـرنګاوه، هغه پایزېب ګونګ شوی
د ادم خان په لاس رباب وسیـــــمه! د ســـــتا ستار ځواني مرګ

پېښور، بورډ بازار

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د نفاق ټکي

له خنـــدا نه رېږي شــونډې خــو د چا به رپي؟
زما په خــوله کې له ازله څه خنـــدا نه شته ده

زمونږ په قوم کې د نفــاق ټکي پخـــوا نه رواج
ځکه پښتون، پښتون ته ګوا شي چې زما نه شته ده

دښتې صحرا مو جهـــنم په څېر بـــدلې شولې
زمونږ په زړونو په لاســـونو کې دعــا نه شته ده

چې د تمساح پـه څېر يې سترګې د ژړا نه ډکې
د غمځپلي اهــوګۍ کــور په بيـــديا نه شته ده

چې به غـوټۍ د ګل ګـــلاب خپـــله ارواح بلله
هغه وږمـــه ســهارنۍ مـــو د ســبا نه شــته ده

ځکه خـــو پرخـــه په لاله زمـــونږه نـه وريږي
فضا مو ډکـــه د باروتو هېـــڅ صفـــا نه شته ده

چې کوم وګړي د افغان وينم مجنـون په څېر دي
سر يې ببر څېرې ګرېـــوان وايـي ليلا نه شته ده

ګوره کارغه ته چـــې حــرم کې د ګربتـــو ګرځي
وسيـــمه! ګـــوره چې يې عمــر ته بقا نه شته ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په اور لمبه

دا زما په زړه چې اور دی ټــول جهان په اور لمبه شه
تا چې پورې کړ په کور مې ســتا مکان په اور لمبه شه

دا جنت نظير وطــن مې چـــې زيــور وای په ګلونو
کوم خزان چې پرې لګيا دی دا خـزان په اور لمبه شه

چې د ډېرې مودې زيار مې وو حاصـل يې وه جونګړه
چې توپان ترېنه چاپېر دی دا تـــوپان په اور لمبه شه

چې په ناز به يې لوبــولم او خپـــل ځــانه راته تېر و
چې د وخت يو ســـوداګر و دا جانان په اور لمـــبه شه

وو شـــراب د پاکې ميـــنې په کـــې جـــوړ و محفلونه
اوس رياء جامـونه څکمه ميســـتان په اور لمـــبه شه

ګل ګـــلاب مې منتـــظر دي هم لاله تـــږې بيديا کې
چې پـــرې پرخه نه اورېږي دا اســـمان په اور لمبه شه

چې يې سپيـــنې جامې تـــن کې په رياء الاهـــو وايي
دا بې ترسه خـــود غرضه مسلـــمان په اور لمـــبه شه

وسيــــم ګرځي سر درو کې هر شاهيـــن ورته فرياد کا
چې د کور وحدت نه غواړي دا افغـــان په اور لمبه شه

پېښور، د هجرت کور

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ځومره جاهـــل يم چې په خړو کـې تصوير لټوم
هغه يو وخـت ؤ چې اوبو کې به تصـوير ښکارېده

که مې کـوډله تکه تـــوره وه لوګـــونه ډکـــــه
بيا هم خوشحاله مې فضــا وه هم تنوير ښکارېده

که په څو ځله يې امېـــل مې لاس کې پاتې شولو
رقيب بې وسه وو په مخـــکې مې حقير ښکارېده

اوس چې ځپېــړه نفرتـــونو ګل په مخ ورکـــړی
نه شته ماليار چې مې د ګل په سر ذهير ښکارېده

څه لوړ مقــام وو زما پــاکې او سپېـــڅلې مينې
په هر قـــدم کې د وصال مې څه تدبير ښکارېده

چې يې د شرمه د وجـود په ګل خوَله ماته شـــوه
وسيمه! شـان کې دې ښکاره ورته ضمير ښکارېده

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پاړکی

**نه شته ده ساقي ســـتا په پيالو کې څه نشه نه شته**
**زه خو اموخـــــــته د تورو ســــــترگو په شـــرابو يم**

**خير دی که ځيگر ستا په باڼو سوری سوری شو بيا**
**زه ټپي ټپـــي چـــې په اغـــزو د ســـــرو گلابو يم**

***

## څلوريزه

**سمن او نســـترن چې د عطـــــرونو ارزاني کړه**
**منې او انار گل هم د ښـــايست نور افشاني کړه**

**سنځل د نارنج گل او ريـــــدي گل لاسونه ورکړه**
**نښتر او کوږ چنار هم په خپلو کې يې ياري کړه**

***

**رنگونو اختـــــلاط کې چې کمـــال دی د رنگرېز**
**جانان مې مسلمان دی خو رقيب مې دی انگرېز**

**پتنگ غـــوندې به ولې په رڼا کې ســــوځېدلې**
**که موم نه وای جوړ شوی په قالب کې د شمعرېز**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## انحصارې سترګې

زما په روح کې دې رانغښـــــتې ستا خمارې سترګې
ته مې معبود، ته مې صنـم يې ستا شاهکارې سترګې

زما دا سترګې، دغه ستـــرګې، ځومره ښکلې سترګې
خدايه(ج) په ټپه کړې، ړنـدې کړې ها اغيارې سترګې

زما وجـــود خـــزان وهلـــــی د نفـــاق په سېلۍ
په هره لور کې راتـــه وشه ســـــتا بهارې ســـــترګې

زما خوښېږي هغه سترګې په نشو چې ســـــرې وي
زه يم بې زار د زخمي ستـرګو او خونخوارې سترګې

ما د هجـــرت کېــــږدۍ وهلې د ښـــکلا په وطن
ځومره ښايسته دي، بــې ريا دي انحصارې سترګې

په دې ګنـــاه يې زه ميـــن يم په مسلمو ســــترګو
ما ته ښېــرې رانېغې کــــړي دي کُفارې ســـــترګې

د سمندر په لوی ســـاحل کې مې څه شـور واورېده
چا راته ويل چې هر څه ډوب کړل دې قرارې سترګې

وسيـــمه! هر څه دې خوښېــــږي په نصيب شه درته
لېکن نصيب دې شه دښمـــن ته بد ګـــومانې سترګې

۱۳۸۴/ د ثور ۱۲مه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## رسي که نه؟

زمـــا د زړه د ســـر چيـــــنو نه لاره
ستا د سراب منـــزل ته رسي که نه؟

دا ســـتا د ســـترګو الـــوتکې غشې
زما او ستا حايـــل ته رســـــي که نه؟

د ستا غرور کاروان په لوړه درومي
دغه کاروان مـــايل ته رسي که نه؟

ستا د نرګـــــس پسرلنی وږمې نه
زما خزان زابـــل ته رســـــي که نه؟

ها! ســـتا د زلفو تنـــــابينه کښتی
زما د زړه ساحـــل تـــه رسي که نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

زه یې چې ترې د نشـــې کــړمه خمار په لاس کې
ګرېوان مې څېرې تنـې پاتې شوه اغيار په لاس کې

دا زه منـــم او احتـــرام د بشــر حــق ګڼـــمه
په دغه شرط چې مې شمله نه شـي کُفار په لاس کې

ډېرې نادود يې د پښـــتون په ټبــر تېـــرې کړلې
سلګۍ سلګۍ ماشـوم يې ورکړ د ناتــار په لاس کې

زه به هېـــڅ کله د قلـــم پر ځـای ټــوپک وانخلم
که مې څوک ورنه کړي په زوره د ناچار په لاس کې

زه په زنځيـــر بانــدې اسيــر یمه تقـدير په لمن
زه به په څه وايــم چې زه یم د اختـيار په لاس کې

څومـــره رښتـــیا او حقیقي ظلمت فــرمان چلوي
څنګه راګیــر يو د کاذبه سپیـــن سهار په لاس کې

که مـو سفـــر د ازادۍ پيل کــړو په خپله سيـــمه
زه به رانېسم د کــاروان ښکلـــې مهار په لاس کې

که مې جانان قدم وانخلي په دې شــــنو صحرا وو
زه به دیدن د یـــار ورنه کــــړم انتظار په لاس کې

که ستا تصــویر جانانه تت ښــکارېده، نه ښکارېده
وسیم به پاکه کړي هېـــنداره د غبـــار په لاس کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

ګــوره اغیـــــاره زه دې پېـــــژنمه!
ته که په جامه کــې د پښـــتون راځې

څومره که لیلا لیلا په خــــــوله وایې
قتل ته په خپــــله د مجنـــــون راځې

مونږه افغـــانان خو ســره ورونه یوو
ته خانه خــراب یې پــه بېلتون راځې

متو د وحـــدت مـــو کلا جـــوړه کړه
ته یې ړنګېـــدو ته په جنـــــون راځې

مخ دې لا تورېـــږي بیـــا په سپینه ورځ
ځکه خو په مکــــر او شبــخون راځې

مه وژنه! زمونــــږه افغــــان مـه وژنه
لاش به دې ان شاءالله په جیهون راځې

زه حیران یم دې تـــه، ته کـــارغه ولې
څنګه د ګربتــــو په قشــــون راځې

داسې د وسیم په زړه کې بـــرېښي څه؟
وایي چې د خپلو په لمســــون راځې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مور نړۍ‌واله ورځ

مور مې زمـــا د ارمــانـونـو دنـــیا
زمـــا د شپـــو او ســـهارونو دنیـــا

چې یې په سترګو کې همت راښوده
راته یـې درس د محبـــت راښـــوده

زما د خیـــال او د فکـــــرونو دنیا
مور مـــې زمـــا د ارمـــانونـــو دنیا

غېږ یې خوشبو ډېـر د جنت په عطرو
زه به یې معطر کـــړم شفقت په عطرو

زما د ځمـــکې اســـمانـــونـو دنیـــا
مـــور مې زمـــا د ارمـــانـــونـو دنیا

مـــورې قربان د ســتا غیـــرت نه شمه
د ســـتا بې شـــانه شفـــقت نـه شمه

زما د دنګـــو دنګـــو غــــرونو دنیا
مور مې زمـــا د ارمـــانـونـــو دنیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

یاغي خویـــونه دې په باز د تخیــــــل رانېسم
تا به کـــړم رامـــه په دانــــه د عــاشقۍ جانانه

ته شه او زه شم سـره دواړه د سپیـن غر په لوري
طبابــت وکړو د بېـــــماري اهـــــــوري جانانه

تا به کـړم میره د خـوبانو که هېـــواد ته راځې
په دواړو لاسو به سـلام کـــــــړي جنکۍ جانانه

ستا د وجود خوَله ده پرخه، پرخـــه، پرخه په ګل
هم دې عطرونه، هم دې راز د زنـــدګۍ جانانه

خلک به عمـــر تېـــــروي د پاشاهـــي په محل
دواړه خوشحال یوو په ژوندون د عاشقۍ جـانانه

چې تربګنۍ کې د سپوږمۍ ته پاتې نه شې ګلې
درته به جوړه کړم د ستـــــورو غــاړه کۍ جانانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ای! د کنـــدز د ښـــکلا ګانو ډېوې
ته لږ زمـا د زړه پـــه کور کې تم شه

زما د زړه نــــه بهـــــر مــــه وځه تــــه
راته هم ننګو هم پــه پېغور کې تم شه

ته هـــم ریدي، ته هم سنځل شه راته
ته نــــن زما د ســـترګو تور کې تم شه

د مېنې ګل زمـــونږ د پېـــغلو ښایست
در سره راوړه په دې لـــور کې تم شه

ګل د نارنـــج د ښاپېـــرو په څنـــو
ته دې اتڼ په شرا شـــور کې تم شه

زمـــا د پېغـــلې اهـــوړی په تـــرپا
ته د فطـرت په دغه زور کې تـــم شه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

قلم را واخلـــــمه حيــــران شمه چې څه وليکم
هيڅ نه پوهېږمه چــــې بــــد وليـــکم ښه وليکم

زه دومره ډوب د حــــوادثو په ګــــرداب کې شمه
سمه لار پرېــــږدمه زه لاړ شــــمه په غــــره وليکم

چړې پړک کېـــږي او ټـــوپکې د کارتوســـو ډکې
دښمن خو څه کړې چـــې نادودې د تـــربره وليکم

زه يم کم عقــــل خو غليــــم زما نه ډېر دى هوښيار
چې راکې وژنـــې په ژړا بانــــدې يې څــه وليکم

خپلو تورمخـــــو ته د سپيـــــنو لقابــــونه ورکړي
ها! ته مــــلا ووايـــم، نـــوم ورته د خـــره وليکم

په مونږ د مرګ فتوا جاري کړي په خپل کور کې ډمې
قلم مې مــات شه که دا هــر څه د خپــل زړه وليکم

هلته ناولــې نڅـــا ګــرې او پوليـــس څوکيــــدار
هلته هېــــرا د منـــډيي کـــوڅه سپېــــره وليکم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## موريِ!

ای! زما مـــورې په ما ګرانې موري
ما ته د هــر چا قــدردانې مــورې

ستا په کتو مې زما سترګې خــــوږې
راته ډالـــۍ يې د يـــزدانې موري

په ما دې ګل ګوزار پېرزو هم نه شي
زما په درد بانــدې حيـــرانې موري

زه به ستا خـــاورې د قــــدم ښکلوم
ته زما ژونـــــد يې مهـــربانې موري

په برکــت دې زه جنـــت ګټـــــمه
ته زمـــا ځـــان زما جانانې مـــورې

زه دې هېـــواد په ميــــنه وروزلم
ته وې په اصـل کې افغـــانې موري

زه به نـــړۍ خوشحالي ټـولې کړمه
ستا په لمـن کې جاوېـــدانې موري

زه وسيـــم دعا ته دې محـتاجه يمه
بې له تا هېڅ يم با ايمــــانې موري

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نيمه ازاد نظم

ای! عزرايله نوره کډه وکړه
نور بس دی ستړی، ستومانه به يې
لږ ها خوا ځو قدمه وړاندې لاړ شه
هلته د ژوند د قافلو غارتګر
هلته د مرګ د هوسو سوداګر
لږ انتقام ددې ولس واخله
يو ځل نه لس په لس واخله
ای! عزرايله نوره کډ کړه

***

دلته دې ډېرې مېندې بورې کړلې
دلته هم ډېرې خورکۍ کونډې شولې
دلته هم ډېر شول ځوانيمرګ ځوانان
چا وويشتل څوک په خپل مرګ ځوانان
ښې کروندې مو هدېرې جوړې شوې
خوشحاله وخت مو غم شپې جوړې شوې
ای! عزرايله نوره کډه وکړه

***

لږ ها خوا ځو قدمه وړاندې لاړ شه
هلته ضمير د انسانانو مړ دی
هلته پلان د ورور وژنې جوړ دی
دلته به ما وژنې خپل ورور وژنې
هم مې خپل زړه، هم مې سترګو تور وژنې
په رنګ يې سپين کړې د تور مخو يارۍ
ها! د بدمرغو او شرمښو يارۍ
ای! عزرايله نوره کډه وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

شهيد رهبر او د زړه ســـر ته سلام
ها! بې کتـــابه پيغمبر ته ســـــلام

ها! د ميړانـــې او د ســـولې رهبر
ها! د بې وزلو لوی اختــر ته سلام

ها! د غيرت هغه بې ســـــارې مثال
دښمن په سر هغه محشـــر ته سلام

ها! د پامير ها د شمشاد څوکې ته
هغه بابا، هغه سپــــين غر ته سلام

وسيم به تل هغـه په زړه کې ساتي
هغه نجيـــب هغه افســـر ته سلام

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

**خلک د کال د ها رنگـــونو انتـــخاب کې ماهر**
**مونږه د وینـــو جـــوړولو په خـــوناب کـې ماهر**

**وایي راتلونکی کال د رنگ به د اوبو په رنگ وي**
**مونږه د دښتـو ورښـــودلو په ســـراب کې مـاهر**

**د مېړنو دښتـــو، مېـــرو نه ســــــره گلان ټوکوي**
**مونږه د بـوټـو پرېکـــولو د گـــــــلاب کې ماهر**

**ځان يې سنبال کړ په تعلیم باندې گاونډ ځوانانو**
**مونږه په ټنگ او په ټکـــور او په شباب کې ماهر**

**خلک د لمر په شان ځانــــونه کړي عیان خلکو ته**
**مونــــــږه په مــخ د کشکولو په نقـــاب کې ماهر**

**راځئ! ور دروســــو د رڼا او خوشحالۍ لورې ته**
**وسیـــمه! ته يې د پخــــــوانه په شتاب کې ماهر**

۱۳۹۸/۹/۱۷ل
کابل، تایمني

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

سرې شونډې شــــنه پياله کې
خـــمار پـــه ميـــــکده کې

زبون زبـــون احســـــاس مې
ښاغلـــې تلـــــوسه کــــې

کفـــــر کفـــــر ســـــترګې
د ديــــن په فلســـــفه کې

ياغـــــي ياغــي خويـــونه
د عشــــق په سلســـله کې

بانـــه يـــې غشـــې غشـــې
د ميـــنې معــــــرکه کې

جنــــون جنـــون کردار يې
ســـتم تنــــګه سيــــنه کې

د ظلــــــم انتـــــها يــــې
نه ځايېــــږي په کعــبه کې

يـو ورځ بـه ورتـــه ښـــايم
حقيـــــقت پـــه ائېــنه کې

ساتــم يې لکـــه اوښــــکه
د ســـترګو پـــه کاســـه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګـــلاب ګــلاب جــانان مې
# د زړه پـــه حجـــــره کـــې

۱۳۹۸/۲/۶ل
بغلان مرکزي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

پاکه ربه ســـتا له در ســـــره ولاړ یم
ګناهــکارو کې د ســر ســره ولاړ یم

زاهد وايي چې همدا وخت د توبو دی
د ربــاب او د هنـــر ســــــره ولاړ یم

میخانې کې مـې پیالې دي ماتې کړي
تخییل کـــې د کـــوثر ســـــره ولاړ یم

هم شراب وو هم پیاله وه ساقي، زه وم
اوس ناچــاره د منــبر ســـــره ولاړ یم

ښه پوهېږمه چې لاندې لـوی ګړنګ دی
تــــورو خــــارو د کمـــر سره ولاړ یم

ناپــوهي دې، وزرونــه خپـــاره کړي
بې ضمیــره تور رهبـــر ســره ولاړ یم

زه وسیـــم که په تیارو کې مزل کاندم
وخت به راشـي چې د لمر سره ولاړ یم

۱۳۹۸/۷/۹ل

بغلان

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

سوله مینـــه، ســـوله ژوند، ســـوله هستي ده
سوله عشـــق په میـــخانه کې بـــــد مستي ده

سوله دُر، ســـــوله دُرخو، ســـــوله ربـــاب ده
د ادم د میـــــــنې راز دی زنـــــــده ګي ده

سوله ګل، ســـوله ګـــلاب دی، ســـوله پـــرخه
سحرګه کـــې د نســـــیم ســـــره یـــاري ده

سوله عود، سوله عنـــبر، ســـــوله خـــوشبو ده
ســـوله اوښـــکه، شهلا ســـترګو نرګســــي ده

سوله یون، ســـوله مشـــال، ســـوله کتـــاب دی
سوله غواړه! چې لـــوی خدای ته بنـــده ګي ده

زه پـــه درې ټکـــو یـــې غنـــدمـــه وسیـــــمه!
جنګ سپېره دی، جنګ مو وژني، جنګ نیستي ده

۱۳۹۸/۱۱/۱۱

مرکزي بغلان، بغلان ادبي بهیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



# يادښت

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**